# افغانستان ژمنی ګډه تګلاره

2021 - 2022

د ژمي موسم په جریان کې بشردوستانه مرستې

### د ژمنی مرستو د ګډې تګلارې کلیدي ارقام (2021 - 2022)

| ترلاسه شوی بودیجه | د اړتیا وړ بودیجه | پلان شوی موخه | اړمن خلک |
|---|---|---|---|
| $ 300M | $ 329.1M | 9.2M | 12.1M |



Photo: Farhad Faizi/DMP/UNHCR

Shelter Cluster Afghanistan
ShelterCluster.org
Coordinating Humanitarian Shelter

WASH Cluster
Water Sanitation Hygiene

AFGHANISTAN FOOD SECURITY CLUSTER
Strengthening Humanitarian Response

HEALTH CLUSTER

Protection Cluster Afghanistan

کلستر تعلیم و تربیه افغانستان | د افغانستان د پوهنې کلستر | Afghanistan Education Cluster

AFGHANISTAN NUTRITION CLUSTER

# 1 اجرایوي لنډیز

د پرلپسې جنګونو او طبعي آفتونو په نتیجه کې رامنځته شوي څلویښت کلن دوامداره بحران؛ افغانستان په نړیواله کچه له ستر بشري ناورین سره مخ کړی دی. دغو آفتونو او خندونو د بېځایه شویو، کورنیو او له طبیعي پېښو څخه د زیانمن شویو خلکو مقاومت لړ کړیدی. حتی په عادي حالتونو کې، کورنیو لپاره د خپلو لومړنیو اړتیاوو پوره کول ستونزمن دي. دا ستونزې په افغانستان کې د ژمي په رارسېدو سره نور هم سختېږي، چې د میاشتنی تودوخې کچه 1،-12 سانتي ګرېډ ته رسېږي.

هر کال، د ژمي سړېدونکی هوا، په ځانګړې توګه په لوړ ارتفاع لرونکي ځایونو لکه بامیان، غزني، نورستان، وردګ او پکتیا کې د ژوند ژغورنې ژمنیو مرستو ته اړتیا وي، ځکه سړښاوی د یخنی پروړاندې خوندي نه دي او ډیری زیانمن شوي کسان مالي توان نلري چې د سون توکي او بخاری واخلي ترڅو د خپلو ځانونو د تودوخې اړتیاوې پوره کړي.

**روغتیا:** د ژمي موسم کې د تنفسي ناروغیو کچه لوړېږي. د افغانستان عمومي وضعیت د ارزوني راپور پربنسټ د ژمي میاشتو کې په روغتونو کې د بستر کېدو، ناروغتیا او د مړینې کچه لوړوالی مومي. ډیری وخت یخي هوا سره شدیدې تنفسي ناروغی مل وي او نوموړی ناروغی د مړینې لامل کېږي. له 5 کلنی څخه ښکته ماشومانو نږدې 25-30 سلنه د تنفسي ناروغیو له امله مړه کېږي، چې د دغو مړینو 90 سلنه یې د سږو پړسوب (pneumonia) له امله وي. سربېره پر دې، د ژمي موسم پرمهال د هېواد په ډېرو برخو کې، لوی سړکونه بندېږي او د ژمي موسم کې بېځایه شویو ټولنو ته پروخت او کافي طبي اکمالاتو چمتو کول محدودېږي.

**د خوراکي توکو ناخوندیتوب:** همدارنګه په افغانستان کې ژمی د نهایي لوږې موده ده ځکه پدې موسم کې د خوراکي توکو د تولید او د عوایدو ترلاسه کولو فرصتونه ډېر محدود وي، دا په داسې حال کې چې هېواد له وچکالی سره مخ دی. د د غذایي خوندیتوب اداري(FSAC) ارزونه وړاندوینه کوي چې د 2021 له جون څخه تر نوامبر پورې، د هر اړخیز پړاو طبقه بندي (IPC) دریېم پړاو (ناورین) او د د هر اړخیز پړاو طبقه بندي (IPC) څلورم پړاو (بېړنی حالت) ټول نفوس به 9،5 میلیونو ته راتېټ شي، چې 6،7 میلیون کسان په ناورین او 2،7 یې په بېړني حالت کې وي. د حاصلاتو راټولولو مودې څخه د ژمي تر موسمه، د کورنیو ذخیرې ختمېږي. د حاصلاتو راټولولو څخه مخکې د ارزوني مطابق، په منځنی توګه، کورني محصولات یواځې 5 میاشتې دوام کوي دا پدې معنی چې ډیری کورنی به په ژمي کې د خپلو ځانونو تغذیې لپاره خوراکي توکي ونلري. په دودیز ډول کرهڼه د افغانستان پر اقتصاد واکمن دی او د اقتصاد په پرمختګ کې یې لویه ونډه لري. نږدې 70 سلنه افغانان په کلیوالو سیمو کې ژوند او کار کوي او د ټولو کورنیو 61 سلنه یې له کروندو څخه خپل عایدات ترلاسه کوي. له نوامبر میاشت څخه وروسته ډیری څرځایونه په واوره پوښل کېږي او د شنو واښو شتون له خطر سره مخ کېږي. کوچني کروندګر په اوړي کې د خپلو حاصلاتو راټولولو څخه وروسته او د ژمي موسم په لومړیو کې خپلې ذخیرې ختموي.

د ژمي موسم کې د کرهنیزو فعالیتونو نشتوالی او په کرهنیز سکتور کې د کار تقاضا د پام وړ لړوالی مومي. افغان کروندګرو او د هغوی کورنیو لپاره د مالداری محصولات د عوایدو او خوراکي توکو یوه عمده سرچینه ګڼل کېږي. د ځینو خلکو په تېره بیا د کوچیانو د عاید یوازینی سرچینه څاروي دي. د جون څخه تر سپټمبر میاشت پورې، څارویو لپاره واښه لرونکي ساحې او څرځایونه لړوالی مومي چې کېدای شي د څارویو بدني وضعیت او محصولات له منځنی کچې څخه راښکته شي. د ژمي پرمهال، مالداران ډیری وخت پر محدودو ټیټو ځمکو او د فصلونو پر پاتې شونو بسنه کوي. څرنګه چې د ژمي موسم کې دواړو انسانانو او څارویو د مصرف اړتیاوې لوړېږي، د ژوند ژغورنې د لومړنیو خوراکي توکو مرسته او د مالداری د خوندیتوب فعالیتونه اړین دي ترڅو زیان منونکي کورنی وړتیا ومومي چې د ژمي له سختو شرایط سره مقابله وکړي.

**کرونا:** د کرونا وبا خپرېدو هم د افغانستان خلکو د ژوند هر اړخ اغېزمن کړیدی، چې ډېرو مواردو کې یې شته بشري او پرمختیایي اړتیاوو ته شدت ورکړیدی. د 202 کال اپرېل او 2021 کال د جولای 08 ترمنځ، په ټولټیز ډول 131586 کسان په کووېډ – 19 وبا اخته شوي چې 5561 تنو یې خپل ژوند له لاسه ورکړ. په جون 2021 کال کې یې د دریېمې څپې له پیل راهیسې، د پېښو شمېر په بې ساری توګه لوړوالی موندلی، چې په منځنی توګه د ورځې شاوخوا 200 نوې پېښې رامنځته کېږي او 100 تنه خپل ژوند له لاسه ورکوي. د 2021 کال د جون 29 راهیسې، یواځې 0،6 سلنه خلکو بشپړ واکسین (دوه دوزه واکسین) ترلاسه کړی؛ او یواځې 2 سلنه خلکو د واکسین لومړی دوز تر لاسه کړیدی. په 202 کال کې جمهوري ریاست حکم صادر کړ ترڅو له ګڼې ګوڼې څخه مخنیوی او د لاس حفظ الصحی ته پاملرنه وشي، او د کورنیو چارو وزارت پر لویو غونډو، ورزشي او تفریحي ځایونو بندیز ولګاوه. د IOM او UNHCR راپور پر بنسټ، په 2021 کې به د ایران او پاکستان پولو ترمنځ تګ راتګ یوه عمده ننګونه وي، چې اساسي لامل یې تر یوې کچې د کووېډ – 19 وبا اقتصادي ناورین دی چې د کارموندنې فرصتونه یې لړ کړیدي. حتی له کووېډ – 19 وبا څخه مخکې، د اټکل له مخې درې نوې (93) سلنه خلکو د هر کس په سر د ورځې 2 امریکایي ډالرو څخه په لږو پیسو ژوند کاوه.

**زده کړه:** د ژمي موسم د افغانستان په ډېرو ولایتونو کې زده کړې ته د ماشومانو لاسرسي پروړاندې ننګونې رامنځته کوي. ماشومان اړ کېږي ترڅو د ژمنی زده کړې چمتووالی ونیسي، ځکه تر اوسه ډیرې ښوونځي د ژمي موسم کې د تودوخې پر وسایلو سمبال ندي. د افغانستان د عمومي وضعیت ارزوني (WoAA) معلوماتو مطابق 84 سلنه بېځایه شویو کورنیو ویلي دي چې د ښوونځي له ژمني رخصتی څخه مخکې هم د هغوی ماشومان په ښوونځي کې بخاری نلري، چې د 2021 کال په وروستیو میاشتو کې ښوونځي ته د ورتګ د مخنیوي لامل ثابتولای شي. د 2021 کال د مي میاشتې وروستیو کې، یواځې د ښوونځیو له بیا پرانیستېدو څخه شپږ اونی مخکې د 2021 کال د مارچ په لومړیو کې، په ټولو ولایتونو کې د کووېډ -19 وبا د خپرېدو مخنیوي لپاره حکومت بیاځلي اعلاو وکړ چې ښوونځي دې بند شي. دا به د هېواد پر هغو ماشومانو ناوړه اغېز ولري چې زده کړه یې لا د مخه د اوږدمهالي جګړې له کبله زیانمن شویدي. د ژمي موسم پرمهال، ډیری کورنی په ژمي کې د ژوندي پاتې کېدو لپاره د خورا سختو میکانیزمونو راپور ورکوي. له 61 سلنه څخه ډیری کورنی په ژمي کې ژوندي پاتې کېدو لپاره په خوراکي توکو د پیسو د لګښت کمولو راپور ورکوي، د نورو خدمتونو لګښتونه، په ځانګړې توګه د روغتیایي پاملرنې او په ژمي کې د پور د لوړېدو خطر چې شاوخوا 68 سلنه کورنی پیسې پور اخلي یا په ژمي کې پوروړي کېږي. هغه کورنی چې ښځینه یې سرپرستي کوي ډېر لړ امکان لري چې هغوی وکولای شي خپل پوروونه بېرته ورکړي چې د نارینه مشرانو (34 سلنه) په پرتله (12 سلنه) دی.


**د کلستر داخلی کړنلاره:** د ژمني چمتووالي مخکنی ارزونې د ژمنی مرستې ځنې اوږدمهالي اغېزې او په ژمي کې د کورنیو ټولیز مقاومت نشتوالي وړاندوینه کوي. د یادې ارزونې له مخې، ژمنی مرستې یوازې د خلکود غیرغذایي توکو او بېړنی سرپناه د اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته کوي خو په نورو سکتوري اړتیاوو د بېلګې په ډول د خوړو خوندیتوب او روغتیایي پاملرنې په برخه کې یې ډېر څه نه دي کړي. دا خبره په ډاګه کوي چې په ژمنیو مرستو کې باید د ټولو کلسترونو اړوند اړتیاوې په نظر کې ونیول شي. د دې ژمنی تګلارې موخه دا ده چې د شته امکاناتو او پروګرامونو طرحې ته بیا ځلې کتنه وشي څو وکولای شي چې د نورو بې وزلو کورنیو تر څنګ د هغو زیانمنو کورنیو اضافي اړتیاوې هم پوره شي چې له کرونا څخه د رغېدو په مرحله کې دي او یا هم ورستیو سختو جګړو ځپلي. لدې کبله، د کرونا مخنیوی او مرستې د 2021 کال کلستر او سکتور په ټولو کړنلارو کې مطرح شویدی، لکه ژمنی مرستې، لومړیتوبونو ته د مسیر ورکولو اړتیا او د کوربه ټولنې د خلکو ګډون.

تګلاره د کلستر داخلي میکانیزمونو کې د همغږۍ په اړه یوې پیاوړې ژمنې ته اړتیا لري ترڅو داډ ترلاسه شي ترڅو یو هر اړخیز غبرګون زیانمن شویو خلکو ته اجازه ورکوي چې خپل مقطعي اړتیاوې او هغه زیان منني چې د ژمي موسم سره تړاو لري، په ګوته کړي. سربېره پردې، تګلاره له تمویل کوونکو، په ولایتي او سیمه ییزه کچه د حکومتي چارواکو، بېلابېلو وزارتونو ترمنځ چې د غبرګون په تطبیق کې ښکېل دي او په همدې توګه د ستراتېژیکو لومړیتوبونو، د بودیجې تخصیص چې د ژمي پرمهال اغېز کوي همغږۍ او همکاری ته اړتیا لري.

## 2 د افغانستان ژمنی تګلاره

ددې لپاره چې ټولو سکتوري اړتیاوو ته پاملرنه وکړي، دا کړه ژمنی تګلاره د سرپناه،خوراکي توکو، تغذیې، خوندیتوب، روغتیا اوحفظ الصحې په برخه کې د منسجمو کمکونو لپاره جوړه شوې؛ څو له سخت ژمي سره تړلی د ښوزلې کچه راټیټه شي او داډه شو چې د اندېښنې وړ کسان له یخنۍ څخه په سمه توګه ساتل شوي او کولی شي چې د ژمي له سختې یخنۍ سره ځان عیار کړي او مبارزه وکړي. د همدې موخې لپاره دا تګلاره یو شمېر حل لارو ته لومړیتوب ورکوي چې په بېلا بېلو شکلونو تطبیقیږي، د بېلګې په ډول؛ مناسبه سرپناه، کمپلې، د سون توکو مرسته، غیرغذايي توکي، ژمنی پوښاک، خوراکي مرسته، د ځانګړو خوندیتوب،زده کړه، تغذیه، حفظ الصحه، د ګرځنده او ثابتو روغتیایي مرکزونو او اکمالاتو له لارې د بېړنی روغتیا مرسته.

دا ژمنی پلان د هغو ګڼو سکتوري هڅو د بشپړولو یوه هڅه ده چې د سکتورونو د همغږۍ د ټیم (ICCT) له لورې د ژمي د موسم لپاره وړاندېز شوې. په دې کې دېرې هغه تکراري فعالیتونه دي چې د 2020 او 2021 کلونو په تګلاره کې لومړیتوب ورکړل شوی و او اوس د رواني زیاتېدونکې جګړې او وچکالۍ د بېځایه کېدنې له امله یو څه زیاتوالی او بدلون په کې راغلی او ځینې خو یې بیا بېخي نوي فعالیتونه دي چې د کرونا وبا یا کوید -19 له امله اړین ګڼل کیږي. د یادونې وړ ده چې دا پلان یوازې د ژمي موسم لپاره دی او د یو اساسي سند په توګه پام کې نیول کیږي چې د وضعیت په پام کې نیولو سره د اړتیا پرمهال پرې بیاکتنه کیږي. اټکل شوی چې له 12،1 میلیون اړمنو خلکو څخه 9،2 میلیونه کسانو ته د ژمني چمتووالي مرستې د سکتوري-داخلي فعالیتونو له لارې ورسیږي چې پدې پلان کې ذکر شویدي. دا تګلاره د هغو فعالیتونو ترسره کولو لپاره چې له ژوند ژغورنې سره مرسته کوي، د خوندیتوب ګواښونو مخنیوی او له منځه وړي (په ځانګړې توګه ډېر عمر لرونکو کسانو، ښځو او ماشومانو لپاره) او مرسته کوي ترڅو په لومړنیو ولایتونو کې د هوا اړوند شدید لاملونه په ګوته شي، په ټولیز ډول 336،6 میلیون امریکایي ډالر بودیجې ته اړتیا ده. د دې بودیجې موده څلور میاشتو (نوامبر 2021 – فبروري 2022) لپاره دی.




لومړی شکل: د بودیجې د تخصیص لنډیز

د دې پلان تطبیق به د افغانستان حکومت د هڅو په ملاتړ (په ځانګړې توګه د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت، ANDMA ، د بشري مرستو همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو اداري (OCHA) په همغږۍ او د ټولو اړوندو کلسترونو په لارښود ترسره کیږي. دا پلان به ټولو نهادونو/ادارو ـ ځانګړو پلانونو لپاره د چمتووالي او ځواب ورکولو ته د لارښود سند په توګه کارول کیږي. دا مهمه ده ترڅو درک شي چې دا پلان پر بېړنیو بشري هڅو اساسي تمرکز کوي، پرمختیایي فعالان کولای شي مرسته وکړي چې د ژمي موسم کې د خلکو باور ترلاسه او د ځواب ورکولو سېستمونه پیاوړي کړي. پرمختیایي مرستې له نورو سکتورو سره هم تړاو لري لکه زده کړه، چېرته چې کېدای شي ډېر ښوونځې چې بیا پرانیستل کیږي زده کوونکو لپاره سونتوکو، عایق لرونکي تسهیلات شتون ونلري. له پرمختیایي فعالانو څخه تمه کیږي ترڅو پام کې ولري چې څنګه کولای شي د بېړني حالت دا لومړنی ځواب په ځانګړې توګه په لوړ ارتفاع لرونکو ولایتونو کې بشپړ کړي. پدې اړه د انرژۍ د اغېزمنتوب پروګرامونه یا د مالداري پروګرامونو همغږي پام کې نیول کېدای شي.

د 2021/2020 کال لپاره د ژمني چمتووالي تګلاره د کرونا وبا د خپرېدو اغېز په پام کې نیسي، د IPC یو تازه تحلیل د وچکالۍ له امله د خوراکي توکو د خوندیتوب رامنځته شوې اندېښنه او امنیتي لېدلوری په پام کې نیسي چې د دوامداري جګړې او سیاسي بې ثباتۍ وړاندوینه کوي. پدې صورت کې، کېدای شي د ژمني چمتووالي همکارۍ او بودیجې ته ډېره تقاضا شتون ولري ترڅو په نویو ځایونو کې او ډیرو قضیو ته ځواب ورکړل شي. په هېواد کې د کرونا وبا رواني درېیمې څپې په ټولو 34 ولایتونو کې د 2021 کال د جولای 28مې پورې د کرونا وبا له پیل راهیسې په ټولیز ډول 145996 کسان اخته شویدي. بهرنیو آزمایښتونو په افغانستان کې د نوموړې وبا د نورو ډولونو شتون تصدیق کړیدی.

د اړوند سکتور د ژمني چمتووالي د اړتیاوو تحلیل پر بنسټ، کلسترونو داسې ځوابونه طرح کړیدي چې هغو اړتیاوو سره تړاو لري چې د زیانمن شویو خلکو لخوا په ډاګه شویدي، پداسې حال کې چې په هر ځای کې د کاري شریکانو او لاسرسي ننګونو سره چې هغوی مخ دي، په پام کې نیول کیږي. دا نوې ګړنلاره عمومي موضوعي عمل ته وده ورکوي او د عمومي هوکړه شوې جدي ستونزو په اړه د نهاد ترمنځ همغږۍ سره مرسته کوي.

### 2.1 ستراتېژیکي موخې

الف. د ژمنیو مرستو او خدمتونو د پر وخت چمتو کولو له لارې په اړمنو سیمو کې د ژوند ژغورل.
ب. د ژمنیو مرستو د چمتووالي له لارې د چټکې بیا رغونې ملاتړ څو د خوراکي توکو، تغذیې، حفظ الصحه، خوندیتوب، بېړنۍ سرپناه او غیرخوراکي توکو، روغتیا او زده کړو په شان سکتوري خدمتونو څخه ملاتړ وشي.
ج. داډ ترلاسه شي چې د ژمي موسم اړوند د خوندیتوب اندېښنې، او د مخکینو ګډو اړتیاوو لکه سېلابونه، وچکالي، دوامداره جګړه، د کرونا وبا خپرېدو اندېښنې راکم یا په ګوته شي.

### 2.2 د 2020 کال د ژمنی تګلارې څخه زده کړل شوي درسونه (تجربې)

د 2020-2021 کال د ژمني چمتووالي د ارزونې پایلو ښودلې چې:

الف. ډېرو مرستو ترلاسه کوونکو په ډاګه کړه چې ژمنی مرسته دې د ژمي موسم په لومړیو کې چمتو شي.
ب. ډیرو زیانمنو وګړو د دې توان نه درلود چې خپلې ټولې سکتوري اړتیاوې پوره کړي او پدې توګه باید ترلاسه شوې مرستې سره نورې اړتیاوې په ګوته کړي، لکه روغتیایي پاملرنه.

ج. ټولنو سره د اړیکې نیولو هڅو پرمهال باید داډ ترلاسه شي چې کټه اخیستونکو سره پر وخت مهم معلومات شریک شي؛ د دې مورد په پام کې نیولو سره چې ټول کټه اخیستونکي ټیلفون او مخابراتي پوښښ ته لاسرسی نلري، او پداسې مواردو کې باید د اړیکې نیولو بدیلې لارې په پام کې ونیول شي.

د. د مارکېټونو واټن او ظرفیت بې باید وارزول شي او د ژمنی نغدي مرستې له پیل کولو څخه مخکې تصدیق شي.
ه. د کټه اخیستونکو د غوراوي معیار باید د موخې وړ ځایونو ته د څو-سکتوري اړتیاوو پر بنسټ وي.
و. د ژمني چمتووالي بستو په کټور او اغېزمنه توګه وړاندې کولو پرمهال امنیت د ټولو کاري شریکانو پر وړاندې یوه جدي اندېښنه ګڼل کیږي.


ز. څرنګه چې کورنۍ د اړتیاوو د پوره کولو هڅه کوي، د متقابل منفي ستراتیژیو غوره کول لکه د خوراکي توکو او خدمتونو لګښت کمول، هغوی اړ کیږي چې پیسې پور کړي او کېدای شي په ډېرو قرضونو راګیر شي. د پور خطر او د ډېر مقاومت-محوره ځواب په ګوته کول.

### 2.3 د تګلارې د پرمختګ انګېرنې او خطرونه

#### 2.3.1 د سرپناه/NFI خراب وضعیت

د 2021 کال د نوامبر راهیسې، د هایپوترمیا، حاد تنفسي ناروغۍ، او مرینه د یخنۍ لوړوالي سره مستقیم او غیر مستقیم اړیکه لري. په ډېرو مواردو کې دا به د ناکافي فزیکي سرپناه او د بدن اصلي تودوخې ساتلو لپاره د کافي شخصي عایق نشتوالي ته منسوب وي. ضعیفه سرپناه او غیر روغتیایي وضعیتونه، په ځانګړې توګه بېځایه کېدو کې، خلک د کووید-19 وبا په څېر ناروغیو پروړاندې زیان منونکي پاتې شي، او وړتیا ونلري چې د افغانستان سخت ژمي سره مقابله وکړي.
د افغانستان د عمومي وضعیت ارزونې (WoAA 2020) راپور ورکوي چې د بېځایه شویو کورنیو ترمنځ غیر غذايي توکي (57 سلنه) دریم لومړیتوب دی او نور یې خوراکي توکي (71 سلنه)؛ خوندیتوب (63 سلنه)؛ روغتیا (51 سلنه) او حفظ الصحه (42 سلنه) دي. د بېځایه شویو کورنیو ترمنځ غیر غذايي توکي د تخریب شوې سرپناه، د تودوخې ناکافي سرچینې او د سرپناه د احاطې ستونزې له امله دریم لومړیتوب دی، د داخلي بېځای شوي خلکو 7 سلنه یې په نامناسبو سرپناوو کې د ژوند کولو راپور ورکړ؛ د داخلي بېځایه شویو خلکو 81 سلنه یې د تودوخې ناکافي سرچینې او د داخلي بېځایه شویو خلکو 60 سلنه یې د هر غړي په سر له یوې کمپلې راپور ورکړیدی چې د کس په سر یوه کمپله نلري. سربېره پر دې، هغه کورنۍ چې له 6 میاشتو څخه ډېرې مودې لپاره بېځایه شویدي (55 سلنه) د افغانستان په یخ ژمو کې اوس هم لنډمهاله سرپناه، انتقالي سرپناه، په کټه ګونه کې، خدمتونو ته لږ لاسرسي، له شدیدې هوا څخه د لږ خوندیتوب او په استثنايي سختو شرایطو کې ژوند کوي.
د 2022/2021 کال کورنۍ په ژمي کې ورته لومړیتوبونه په ډاګه کوي؛ د بېړنۍ سرپناه اصلاحاتو سره د خپل ځانې-ورکړل شوې راپور د لومړیتوب اړتیا اوه پنځوس (57) سلنه او عایق ته یودېرش (31) سلنه، د سرپناه ترمیم پنځه (5) سلنه، د کرایې ملاتړ درې (3) او نور لومړیتوبونه څلور (4) سلنه اټکل شویدي.
په ژمي کې د غیر-خوراکي توکو جدي اړتیاوو کې سون توکي شامل دي چې شپږ اتیا (86) سلنه، ورپسې کمپلې او د ژمي البسه ده چې اوه پنځوس (57) سلنه او په همدې ترتیب درې څلوېښت (43) سلنه کېږي. له یو دېرش (31) سلنه څخه ډېرې کورنۍ له ځځلو (کاغذ، پلاستیک، کارتن او داسې نورو) څخه د تودوخې اصلي سرچینې په توګه کټه اخلي، درې ویشت (23) سلنه د سون توکي پېرلو لپاره پیسې پور اخلي، نولس (19) سلنه او په همدې ترتیب یوولس (11) سلنه ماشومان د سونتوکو (لرګیو) راټولولو ته استوي او د ورځني خوراکي توکو تناسب کموي ترڅو تېل پېرلو لپاره پیسې بسینه کړي. دا په ځانګړې توګه د اندېښنې وړ دی څرنګه چې مونږ د ژمي بل موسم ته نږدې کېږو.

**د کورنی ژمني لومړیتوبونه (سلنه)**




دویم شکل: د کورنی ژمني لومړیتوبونه 2021/2020

د غیرغذا او بېړنی سرپناه د کلستر له لوري د ژمنیو مرستو په موخه لاندې درې ډوله فعالیتونه په پام کې نیول شوي دي:
ب 1. د سونتوکو مرسته؛ 2. د کمپلو بسته؛ او 3. د ژمنی البسې معیاري بسته. که چېرې سرپناه ترمیم/ښه والي ته اړتیا ولري، څنګه چې مناسب وي د کرایي اړوند مرسته او د ژمني چمتووالي کیټ باید چمتو شي. ټول درې فعالیتونه د ژمي موسم د چمتووالي پرمختیا لپاره تصدیق شویدي.

## 2.3.2 د کرونا وبا اغېز

د کرونا خپرېدو هم د افغانستان خلکو د ژوند هر اړخ اغېزمن کړیدی، چې په ډېرو مواردو کې بې شته بشري او پرمختیایي اړتیاوو ته شدت ورکړیدی. د اپریل 2020 او 08 جولای 2021 ترمنځ، په ټولیز ډول 131586 کسان په کرونا وبا اخته شول چې 5561 تنو یې خپل ژوند له لاسه ورکړ. په جون 2021 کې یې د دریمي څپې له پیل راهیسې، د پېښو شمېر په بې ساری توګه لوړوالی موندلی، چې په منځنی توګه د ورځې شاوخوا 2000 نوي پېښې رامنځته کېږې او 100 تنه خپل ژوند له لاسه ورکوي. د 2021 کال د جون میاشت راهیسې، یواځې 0،6 سلنه خلکو بشپړ واکسین (دوه دوزه واکسین) ترلاسه کړی؛ او یواځې 2 سلنه خلکو د واکسین لومړی دوز تر لاسه کړیدی. په 2020 کال کې جمهوري ریاست حکم صادر کړ ترڅو له ګڼې ګوڼې څخه مخنیوی او د لاس حفظ الصحې ته پاملرنه وشي، او د کورنیو چارو وزارت پر لویو غونډو، ورزشي او تفریحي ځایونو بندیز ولګاوه. د IOM او UNHCR راپور پر بنسټ، په 2021 کې به د ایران او پاکستان پولو ترمنځ تګ راتګ یوه عمده ننګونه وي، چې اساسي لامل یې تر یوې کچې د کرونا وبا اقتصادي ناورین دی چې د کارموندنې فرصتونه یې لږ کړیدي.

څرنګه چې کرونا وبا د روغتیا اساسي خدمتونه او سیستمونه اغېزمن کوي، د ورځنی روغتیایي خدمتونه ځنډ سره مخ کوي او د تغذیې اړینو خدمتونو ته لاسرسی لا محدودوي، اټکل کېږي چې په راتلونکو کلونو کې له 5 کلنۍ څخه ښکته د سلګونه نورو ماشومانو د مړینې لامل شي. د دوامدار پرمختګ موخو (SDGs) 2020 کال راپور پر بنسټ، که چېرې ورځنی روغتیایي پاملرنه ځنډېږي او خوراکي توکو ته لاسرسی لږوالی ومومي، د ماشومانو او میندو د مړینې زیاتوالی کېدای شي ویجاړونکی وي څکه چې 118 د ټیټې او منځنی کچې عاید لرونکي هیوادونو د 9،8 سلنې څخه تر 44،8 سلنه لږ عمر لرونکو ماشومانو کې 5 او د شېږ میاشتو موده کې د میندو د مړینې کچه په میاشت کې له 8،3 څخه تر 38،6 سلنه لوړوالی مومي.

کاري شریکان هڅول کېږي څو د ژمي سکټوري مرستو ته د حفظ الصحې د ترویج پیغامونو په ګډون د کرونا وبا د خپرېدو خطر او د پوهاوي کمپاینونو کې اصلي مسیر ورکړي، که چېرې یو کس کې نښې نښانې شتون ولري څه باید وشي، او د قرانطین اصول/ له نورو څخه د خپل ځان-جلاوالی او ټولنیز واټن. اړینه ده ترڅو د اړتیاوو پربنسټ او له تبعیض څخه پرته بې پرې لاسرسی ډاډمن شي. د ژمنی مرستې وېش لپاره هغو ډلو ته باید بدیل ترتیبات په پام کې ونیول شي (لکه، نور راتلونکي). هغو کټه اخیستونکو ملاتړ لپاره شته میکانیزمونه کوم چې نښې کولای خپلې مرستې ولېږدوي (لکه، د ټولنې داوطلب کسان / بار وړونکي) باید ډاډ ترلاسه کړي چې د لېږدولو د خطر لږوالي لپاره عمومي لارښوونې پام کې نیول شویدي (ټولنیز واټن، حفظ الصحه او داسې نور).

د بشرپالنی هڅې هم د کرونا وبا د خپرېدو له امله په بې ساري توګه اغېزمن شویدی، چې د بشرپالنی مرستندویه ډلې نشي کولای چې ساحې ته لاړ شي او ځواب ورکړي – لکه د ارزونو ترسره کول، د ډلې بېزو بحثونو ترسره کولو کې ستونزه، روزنې، د مرستو وېش کې ځنډ، او له وېش څخه مخکې نظارت ترسره کول. د ونډه اخیستونکو ښکېلتیا خورا اړین دی ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې په هیواد کې د بشر پالنې فعالیتونو دوام لپاره د بشرپالنی دهلیزونه رامنځته شي. هغو کسانو ته چې په قرانطین شویو ساحو کې او هغه کسان چې په کلیوال/ټولنیزه کچه په کورني-جلا والي کې ژوند کوي د ژمنیو مرستو ګڅوري وېش هم پام کې ونیول شي که چېرې په تصدیق شویو قضیو کې زیاتوالی او د مړینې کچې کې لوړوالی راغلی وي. دا مهمه ده چې مرسته د اړتیا مطابق او د خلکو ځانګړي زیان منني سره سم دوام ولري. ښځینه وو، لوړ عمر لرونکي کسانو، هغه کورنی چې سرپرست یې ماشوم وي، او معلولیت لرونکو ښځو، انجونو، او هلکانو ته باید په دوامداره توګه ځانګړی خونديتوب وراندي شي.

## 2.3.3 روغتیایي ضعیفي سرچینې

د افغانستان پرمختللی روغتیایي سیستم په ټول هیواد کې خپور شوی، چې شاوخوا اوه اتیا (87) سلنه خلک له خپلو کورونو څخه د 2 ساعته سفر په واټن کې لومړنیو روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی لري. روغتیایي سیستم ته د لاسرسي سربېره، د وبا د را روانې درېیمې څپې لپاره په هیواد کې د دلتا ډول د آزمایښت آسانتیاوو نشتون له امله د نوموړي وبا د خپرېدو اندېښنه لوړه ده. د عامې روغتیا د محدودو سرچینو له امله، آزمایښت لپاره د خلکو نه راتګ، او همدارنګه د مړینې د ملي راجسټر نشتون، کېدای شي په ټولیز ډول افغانستان کې د کرونا وبا د تصدیق شویو پېښو له امله د مړینې په اړه لړ راپور ورکول کېږي. راتلونکې درېیمې څپې سره، لږ واکسین، د ژمي موسم لپاره کیفیت لرونکې روغتیایي سرچینو ته لاسرسی خورا اړین ګڼل کېږي. د کرونا وبا د ناروغانو درملنې لپاره د آزمایښتي ظرفیتونو او لا ډېرو آسانتیاوو سربېره، د افغانستان روغتیایي سیستم تر ډېره بریده لږ سمبال شویدی. د مارچ 8 راهیسې، افغانستان د کرونا پنځه میلیونه دوزه واکسین ترلاسه کړیدی. د 29 جولای 2021 راهیسې، یواځې 0،6 سلنه خلکو بشپړ (دوه دوزه) واکسین ترلاسه کړی؛ او یواځې 2 سلنه خلکو لومړی دوز واکسین ترلاسه کړیدی.

## 2.3.4 بېځایه شوي خلک

له 2012 کال راهیسې د جګړې او طبعي پېښو له امله تر 5 میلیونو ډېر خلک له خپلو اصلي سیمو څخه بېځایه شویدي. د داخلي بېځایه شویو کسانو ترټولو ستر کوربه سیمې په شمال، شمال ختیځ، او غربي ولایتونو کې چې جګړه پکې دوام او شتون لري. له نیمایي څخه ډېر داخلي بېځایه شوي خلک د ولایتونو په مرکزي ساحو کې ژوند کوي، چېرته چې عامه خدمتونه تر فشار لاندې راځي او د مقابلې لپاره یې هڅه کوي. په 2020 کال د بې اسنادو افغان کډوالو د بېرته راستنېدو کچه لوړه وښودل شوه چې عمده لاملونه یې د کار او تنخوا له لاسه ورکول، د کرونا له امله پر ګرځېدو بندیزونه او په کوربه هیوادونو کې روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي نشتوالی دی. کندهار، ننګرهار، هرات او تخار ته لوړ شمېر خلک بېرته راستانه شویدي. له جنوري 2021 کال راهیسي شاوخوا 330000 کسان په هیواد کې دننه بېځایه شویدي، چې عمده لامل یې د جګړې ډېروالی دی. د ژمني چمتووالي د ارزونې پایلې په ډاګه کوي چې له پاکستان څخه کډوال سویل ختیځ ته، داخلي بېځایه شوي بېرته راستنېدونکي بادغیس ولایت، او داخلي بېځایه شوي په لویدیځ کې په دوامداره توګه د نورو خلکو په پرتله د خرابو پایلو راپور ورکوي او د ژمي موسم سره د مبارزې لپاره مرستې ته اړتیا لري.

## 2.3.5 د زده کړې ځنډېدل او د ماشومانو د هوساینې اندېښنې

د افغانستان په ډېرو ولایتونو کې د ژمي سخته هوا زده کړې ته د ماشومانو لاسرسی له ننګونو سره مخ کوي. ماشومان اړ دي ترڅو د ژمي په جریان کې د ژمنیو درسونو لپاره چمتووالی ونیسي او تراوسه ډېرى ښوونځي په ژمي کې کله چې ښوونځي رخصتېږي د تودوخې پر وسایلو سمبال ندي. د افغانستان عمومي وضعیت ارزونې (WoAA) وموند چې 84 سلنه بېځایه شویو کورنیو راپور ورکړی چې د ښوونځي له ژمني رخصتۍ څخه مخکې د هغوی ماشومانو په ښوونځي کې بخاری (د تودوخې وسایل) نه درلودل، کوم چې د 2021 کال په وروستیو میاشتو کې ښوونځي ته تګ مخنیوی ثابتولای شي. د 2021 کال د مې میاشتې وروستیو کې، د 2021 کال مارچ کې د ښوونځیو له بیا پرانستېدو څخه شپږ اونۍ مخکې، د کرونا وبا د خپرېدو مخنیوي لپاره حکومت په ټول هیواد کې د ښوونځیو بېځایې ترل کېدو اعلان وکړ. دا به د هیواد پر هغو ماشومانو ناوړه اغېز ولري، کوم چې زده کړه یې د څو کلنو جګړو له امله ځنډېدلې دی.

## 2.3.6 زیانمن او د ځانګړو اړتیاوو درلودونکي خلک

د ژمي راتلونکي میاشتو (نوامبر 2021 – فبروري 2022) کې ننګونو کې دا وړاندوینه شامله ده چې اوسمهال د شته زیانمننې کچه به په بې ساري توګه لوړوالی ومومي، په ځانګړې توګه د ښځو، ماشومانو او د هغو کورنیو زیان منني څوک چې لا دمخه د جګړې او کرونا له امله زیانمن شویدي. دا به کورنۍ اړ کړي چې ژوندي پاتې کېدو لپاره په خورا منفي میکانیزمونو کې ښکېل شي. د جندر پر بنسټ تاوتریخوالي لوړ ګواښونه د کورنۍ تاوتریخوالي د ډېرېدو ګواښونو سره له ګرځېدنیز سره تړاو لري (دواړو له کرونا او د ژمي میاشتو سره تړاو لري). په افغانستان کې اقتصادي ننګونې، په نا متناسب ډول د ښځو او انجونو لخوا سرچینو ته د محدود لاسرسي او کنټرول د لا ډېرولو له لارې په ښځو، او انجونو اغېز کوي، په کور او ټولنه کې د جندر پر اساس تاوتریخوالي خطر زیاتوي. اقتصادي ننګونې په ژمي کې لاپسې زیاتېږي، همدارنګه په نا متناسب ډول پر ماشومانو اغېز کوي، چې لا دمخه ماشومانو او د هغوی کورنیو اقتصادي سرچینو ته محدود لاسرسی درلود، او کېدای شي دوديزو زیان رسونکو فعالیتونو ته وده ورکړي لکه د ماشومانو پلورل (بد او بدل) او د ماشوم د خونديتوب ستونزې زیاتوي لکه له وخت مخکې واده او د ماشوم کار او هغه ماشومان چې د تودو جامو او مناسبو بوټانو نشتون پرمهال د ژمي اړوند ننګونو سره مخ دي. په ژمي کې د ښوونځي رخصتېدو سره کېدای شي د انجونو او هلکانو څخه د ناوړه احتمالي استفاده زیاتوي او د ماشوم ژوندي پاتې کېدو لپاره ښوونکو پواسطه د تخصصي پاملرنې خونديي رجعت ورکولو ته لاسرسی لږوالی ورکوي.

هغه کورنۍ چې د کور، ځمکې او ملکیت (HPL) نامناسب حقونه لري د سرپناه ترمیمولو څخه یې مخنیوی کېږي ترڅو هغوی وکولای شي چې د ژمي میاشتو کې ژوندي پاتې شي. لږ عاید او د ژمي میاشتو سره تړلي لګښتونه د زیان منونکو کورنیو وړتیا له منځه وړي ترڅو د ځمکې او ملکیت (HPL) لګښتونه د کرایې او وسایلو په ګډون پوره کړي، د دوی د ویستلو خطر زیاتوي - په ځانګړې توګه د ښځو او زیان منونکو ډلو لپاره. ساحوي راپورونه ښیي چې د کرونا وبا او د ګرځبندیزونو له امله، ښځې او انجونې د میاشتني عادت د حفظ الصحې محصولاتو ته لاسرسی محدود کړیدی. د تېر کال (2020) پرمهال د زده کړل شویو درسونو پر بنسټ، سرچینې کافي نه ول ترڅو ډېرو هغو ماشومانو او کورنیو سره مرسته وکړي کوم چې ژمنۍ مرستې ته اړتیا لري.

## 2.3.7 پر اقتصاد او موسمي کرهنې باور

د کرونا وبا جوړښتیز فقر ته شدت ورکړی او ډېر شمېر خلک یې وضعیتي/لنډمهاله فقر ته اړ کړیدي. د خلکو زیان منونکي ډلې چې کرونا اغېزمن کړیدي عبارت دي له، مګر دغو ډلو ته محدود ندي، بېرته راستنېدونکي (په ځانګړي توګه له ایران او پاکستان څخه)؛ داخلي بېځایه شوي خلک؛ ښځینه-سرپرست کورنۍ او کونډې؛ خوارځواکي ماشومان؛ اوږدمهاله اوزګار کسان؛ او بې روزګاره کسان. نامتناسب اغېزمن شوي ډلې بزګران وو، هغه کسان چې د کرهنې په اکمالاتي زنځیر کې بوخت وو، د خدماتي سکتور کارکوونکي، ورځني کارګران، هټیوال، د غیر رسمي سکتور کارګران، او په ټیټه کچه حکومتي کارکوونکي.

په افغانستان کې ژمی د نهایي لوږې دوره ګڼل کېږي ځکه پدې موسم کې د خوراکي توکو د تولید او د عوایدو ترلاسه کولو فرصتونه ډېر محدود وي. د خوراکي توکو خوندیتوب او د کرهنې کلستر (FSAC) ارزونه اټکل کوي چې د 2021 کال له جون څخه تر نوامبر پورې، د IPC دربیم پړاو (ناورین) او د IPC څلورم پړاو (بېړنی حالت) ټول نفوس به 9،5 میلیونو ته راټیټ شي، چې 6،7 میلیون کسان په ناورین او 2،7 یې په بېړني حالت کې وي. د حاصلاتو راټولولو موډې څخه د ژمي تر موسمه، د کورنۍ غوره ذخیرې به مخ په ختمېدو وي. د حاصلاتو راټولولو څخه د مخکنۍ ارزونې مطابق، په منځني توګه، کورني محصولات یوازې 5 میاشتې دوام کوي دا پدې معنی چې ډېری کورنۍ به په ژمي کې د خپلو ځانونو تغذیه کولو لپاره خوراکي توکي ونلري. په دودیز ډول کرهنه د افغانستان پر اقتصاد واکمن دی او د اقتصاد په پرمختګ کې یې لویه ونډه لري. نږدې 70 سلنه افغانان په کلیوالو سیمو کې ژوند او کار کوي او د ټولو کورنیو 14 سلنه یې له کروندو څخه خپل عایدات ترلاسه کوي. له نوامبر میاشت څخه وروسته ډېری څړځایونه د واورې پواسطه پوښل کېږي او د شنو واښو شتون له خطر سره مخ کېږي. کوچني کروندګر په اوړي کې د خپلو حاصلاتو راټولولو څخه وروسته او د ژمي موسم په لومړیو کې خپلې ذخیرې ختموي. د ژمي موسم کې د کرهنیزو فعالیتونو نشتوالی او په کرهنیز سکتور کې د کار تقاضا د پام وړ لږوالی مومي. افغان کروندګرو او د هغوی کورنیو لپاره د مالدارۍ محصولات د عوایدو او خوراکي توکو یوه عمده سرچینه ګڼل کېږي. ځینو لپاره، لکه کوچیانو لپاره، د عوایدو یوازینۍ سرچینه څاروي دي. د جون څخه تر سپټمبر میاشت پورې، څارویو لپاره واښه لرونکي ساحې او څړځایونه لږوالی مومي چې کېدای شي د څارویو بدني وضعیت او محصولات له منځنۍ کچې څخه راښکته شي. د ژمي پرمهال، مالداران ډېری وخت پر محدودو ټیټو ځمکو او د فصلونو پر پاتې شونو اتکا کوي. څرنګه چې د ژمي موسم کې دواړو انسانانو او څارویو د مصرف اړتیاوې لوړېږي، د ژوند ژغورنې د لومړنیو خوراکي توکو مرسته او د مالدارۍ د خوندیتوب فعالیتونه اړین دي ترڅو زیان منونکي کورنۍ وړتیا ومومي چې د ژمي له سختو شرایطو سره مقابله وکړي. کوچنیو بزګرانو لپاره د خوراکي توکو د ذخیرو لږوالی، د خوراکي توکو پر شتون موسمي اغېزې او په لېرې پرتو ولسوالیو کې لاسرسی، د موسمي کار تقاضا لږوالی، په ښاري سیمو کې پر معیشت د کرونا دوامدار اغېز.

## 2.3.8 زېربناوې او خدمتونو ته لاسرسی

هېواد د ښاري پلان جوړونې له ننګونو سره مبارزه کوي چې د دوامدار داخلي بې ځایه کېدو له امله رامنځته شویدي. په ډېرو سیمو کې دواړو زیربنایي نیمګړتیاوو او جګړې له امله بریښنا په ټول هیواد کې د باور وړ نه ده. سربېره پردې، د هېواد په ډېرو برخو کې، د ژمي موسم کې ډېری لویې لارې بندې وي چې د واورې ورښت په لوړ ارتفاع لرونکو سیمو کې جلا شویو ټولنو ته د ژوند ژغورنې طبي اکمالاتو پروخت چمتو کول محدودوي. د یو هر اړخیز، او د ټولنې عمومي لینز سره د ژمني چمتووالي ځواب ورکولو پرمخ وړلو لپاره دولت سره مرسته کول به ډېر حیاتي وي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې خدمتونو ته د لاسرسي نیمګړتیاوې د ویروس خپرېدل چټک نکړي او دا چې د خلکو هیڅ برخه شاته پاتې نشي.

## 2.3.9 چاپیریالي روغتیا

د ژمي موسم له ځان سره یو شمېر تنفسي ناروغۍ رامنځته کوي. د افغانستان عمومي وضعیت ارزونې (WoAA) راپور پربنسټ د ژمي میاشتو کې په روغتونو کې د بستر کېدو، ناروغتیا او د مړینې کچه کې دوامدار زیاتوالی رامنځته کېږي. ډېر وختونه یخې هوا سره شدیدې تنفسي ناروغۍ مل وي او نوموړې ناروغۍ د مړینې لامل کېږي. له 5 کلنۍ څخه ښکته ماشومانو نږدې 25-30 سلنه د تنفسي ناروغیو له امله مړه کېږي، چې د دغو مړینو 90 سلنه یې د سږو پړسوب (pneumonia)له امله وي. سربېره پر دې، د ژمي موسم پرمهال د هېواد په ډېرو برخو کې، لوی سړکونه بندېږي او د ژمي موسم کې بېځایه شویو ټولنو ته د ژوند ژغورنې طبي اکمالاتو پروخت چمتو کول محدودوي.

## 2.3.10 د خوراکي توکو د خوندیتوب او د خوارځواکۍ خطر لږوالی

د (FSAC) ارزونه اټکل کوي چې د 2021 کال له جون څخه تر نوامبر میاشت پورې، د IPC دربیم پړاو (ناورین) کې او د IPC څلورم پړاو (بېړني حالت) کې تمه کېږي چې ټول نفوس یې 9،5 میلیونه کسانو ته لږوالی ومومي، چې 6،7 میلیونه خلک په ناورین او 2،7 میلیونه یې په بېړني حالت کې وي. د حاصلاتو راټولولو موډې څخه د ژمي تر موسمه، د کورنۍ غوره ذخیرې به مخ په ختمېدو وي. د حاصلاتو راټولولو څخه مخکې د ارزونې مطابق، په منځني توګه، کورني محصولات یوازې 5 میاشتې دوام کوي دا پدې معنی چې ډېری کورنۍ به په ژمي کې د خپلو ځانونو تغذیه کولو لپاره خوراکي توکي ونلري. د ژمي موسم کې د هېواد ځینو سیمو ته د واورې او خامه سړکونو له امله فزیکي لاسرسی ناشونی کېږي. د عادي خوارځواکي ماشومانو، د شدید خوارځواکي ماشومانو، او امېندوارو او شېدو ورکوونکو ښځو ته د تغذیې کلستر کې د درملنې چمتو کول لومړني فعالیتونه ګڼل کېږي. که چېرې د ژمي موسم کې اړوند خدمتونه چمتو نشي، دا به د ماشومانو تغذیوي وضعیت لاپسې خراب کړي او وضعیت شدید شي، د ناروغۍ او مړینې کچه به لوړوالی ومومي. پر دې سربېره، په ژمي کېPLWs شېدو پواسطه تغذیې لپاره یو فعال ماحول او نوي زیږېدلي کوچني او ماشوم تغذیې په اړه د میندو ډله ییز بحث ناستو لپاره به یو فعال ماحول ته اړتیا لري. د عادي خوارځواکي او شدیدې خوارځواکي درملنې د خدمتونو منظم او پروخت وړاندې کولو لپاره د ژمني اکمالاتو ځای پرځای کول خورا مهم دي.

## 2.3.11 هر اړخیز کلستر غبرګون

د افغانستان عمومي وضعیت ارزونې عیت ارزونې د 2020 کال ارزونې وښوده چې له 34 څخه په 29 ولایتونو کې، لږترلږه 80 سلنه داخلي بېځایه شوي خلک یو یا ډېر شدید سکتوري اړتیا لري. دوامداره جګړه، مزمنه لوږه، طبعي ناورینونه، او د کرونا زیان کېدای شي د اړتیا دا شدت او د اړتیا د شدت حجم په افغانستان کې د ارزول شوي نفوس ترمنځ وړاندې کړي. د بېځایه شویو کورنیو ترمنځ د بېړني حالت سرپناه او غیر-خوراکي توکي (57 سلنه) دربیم لومړیتوب دی او نور یې خوراکي توکي (71 سلنه)؛ خوندیتوب (63 سلنه)؛ روغتیا (51 سلنه) او د اوبو پاکوالی او حفظ الصحه (42 سلنه) دي. د بېځایه شویو کورنیو ترمنځ د بېړني حالت سرپناه او غیر-خوراکي توکي د تخریب شوي سرپناه، د تودوخې ناکافي سرچینې او د سرپناه د احاطې ستونزې له امله دربیم لومړیتوب دی. سربېره پردې، د داخلي بېځایه شویو کسانو 7 سلنه یې په نامناسبو سرپناوو کې د ژوند کولو راپور ورکړ؛ د داخلي بېځایه شویو خلکو 81 سلنه یې د تودوخې ناکافي سرچینې او د داخلي بېځایه شویو خلکو 60 سلنه یې د هر غړي راپور ورکړی چې د کس په سر یوه کمپله نلري. د 2021/2020 کال ارزونه اټکل کوي چې که څه هم ګټه اخیستونکو ویلي دي چې هغوی ډېره وړتیا لري چې د سرپناه او غیرغذایي توکو اړوند خپلې اړتیاوې په لوړه کچه پوره کړي، مګر دوي په نورو سکتوري اړتیاوو کې ښه نه وو، په مقطعي شاخصونو کې د راپور ورکولو نیمګړتیاوې د خوراکي توکو خوندیتوب او روغتیایي پاملرنې په ګډون. دا تشه یو ډېر هر اړخیز او باور-محوره غبرګون ته اړتیا لري. له(ACTED/2021) او (NRC/2021) راپورونه په ډاګه کوي چې د نغدو پیسو کارولو د دې وړتیا درلود ترڅو له داخلي بېځایه شویو کسانو سره مرسته وکړي چې یو مقدار پیسې پر خوراکي توکو، تېل، بریښنا/تودوخې؛ غیرغذایي توکي، کرایې، د پورونو بېرته ورکړه، روغتیا او درملو ولګوي. په ټولیز ډول د زیانمن شویو خلکو فزیکي، مادي او حقوقي خوندیتوب په ګوته کول اړین دي او د ټولو سکتورونو همکارۍ ته اړتیا لري او باید د یو ګډ اقدام په توګه پام کې ونیول شي – زمونږ ګډ هدف دا دی ترڅو هغو میلیونونو اغېزمن شویو خلکو ته وړتیا ورکړو چې د ژمي موسم سره په ښه توګه مقابله وکړي. په مساوي توګه اړین دی، چې له پیل څخه د ټولو ښکېلو کلسترونو درلودل هغوی لپاره یو مهم فرصت دی چې د ژمي موسم اړوند زیان منني په خپل پروګرام کې شامل کړي، ترڅو موسمي اړتیاوې په ربښتینې توګه په ګوته شي.

په لنډمهال کې، کلسترونه به پلټنه وکړي ترڅو د کلستر داخلي اړیکې تعریف او ترویج کړي چې موخه یې د هر اړخیز بشري اړتیاوو د لارو پېژندل دي چې تر یو کاري چوکاټ لاندې په بېلابېلو کلسترونو کې شتون لري چې د بشري اړتیاوو په ګوته کولو لپاره یوه واحده طریقه رامنځته شي. پدې کې د لومړنیو اړتیاوو پېژندل، د ځواب ورکولو طریقې شامل دي چې موخه یې د سکتوري سیلو طبقه بندی له لارې د مرستې د کیفیت ښه کول او د خدمت وړاندې کولو لپاره د یو ډېر خلک-محورې طریقې کارول دي. دا کړنلاره د دوامدار ټولنیز او اقتصادي اغېز او همدارنګه په اوږد مهال کې د بشري اړتیاوو لپاره د سرچینو ښه او دوامدر تخصیص سره تړاو لري.

## 2.3.12 د خلکو ډلې

دا تګلاره د "اغېزمن شویو ټولنو" طریقه غوره کوي - د کډوالو، راستنېدونکو، داخلي بېځایه شویو او کوربه ټولنو په ګډون – دوارو بېځایه شوي او کوربه ټولنو لپاره هر اړخیز مرستندوی پروګرام جوړول، په مناسب اقتصاد کې فکتور اخیستنه، چاپیریالي او ټولنیز ملاحظات (حقوقي، مادي او فزیکي خوندیتوب). د نفوس د ډلو لیست په پنځو اساسي کټګوریو وېشل شوېدی:

الف. په 2021 کال کې بېځایه شوي خلک

ب. په 2021 کال کې پېښو پواسطه اغېزمن شوي خلک

ج. په 2021 کال کې بېرته راستنېدونکي

د. هغه کډوال چې په افغانستان کې ژوند کوي

ه. شدید زیان منونکي خلک چې بشري مرستو ته اړتیا لري

# 3 د داخلي کلستر پلان جوړونه

## 3.1 لنډیز

د ژمي موسم په هېواد کې د شته بشري اړتیاوو او د ځواب ورکولو روان بهیر پر وړاندې ننګونې رامنځته کوي. کلسترونه د شته او موسمي اړتیاوو مدیریت کولو لپاره لومړني بیلابیل چمتووالی او د ځواب ورکولو فعالیتونه لري.


## 3.2 د اړتیاوو ارزونه


په ټولیز ډول 12،1 میلیونه وګړي چې د 34 ولایتونو په لوړ ارتفاع لرونکو ژمني سیمو کې ژوند کوي اټکل کېږي چې د ژمنی چمتووالي مرستو ته اړتیا لري. د اقلیمي شرایطو په اړه وړاندوینې افغانستان لپاره (2020-2021) د کلنی لړلړه تودوخي لپاره د تاریخي هوا وړاندوینې پربنسټ اټکل کېږي، افغانستان لپاره د واورې او یخ (کنګل) پوښښ په منځنی کچه له جنوري 2015 څخه تر مارچ 2020 کال پورې او په افغانستان کې د کلنی او میاشتنی اوربنت منځنی کچه (د معلوماتو مدیریت او د ماین پاکی پروګرام iMMAP ).

**AFGHANISTAN**

**WINTER SEASON SNOW COVER BY MONTH**


*This map shows winter season snow cover by months (Dec, Jan, Feb, Mar) for Afghanistan from January 2015 until March 2020 in probability expressed as percentage (%). The dataset is the results of 697 daily aggregations at 1km resolution observations grouped by month. The source data originates from the US National Ice Center's Interactive Multisensor Snow and Ice Mapping System (IMS). It is derived from a variety of data products including satellite imagery and in situ data.*








| Province Code | Province Name | Provincial Center | Winter Season Snow Cover with Month in Precentage for Provincial Centers | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | Winter Snow Cover | December | January | February | March |
| 14 | Nuristan | Poruns | 68 | 32 | 78 | 95 | 62 |
| 21 | Ghor | Chaghcharan | 39 | 25 | 47 | 69 | 15 |
| 10 | Bamyan | Bamyan | 31 | 8 | 52 | 52 | 10 |
| 4 | Wardak | Maydan Shar | 27 | 3 | 38 | 51 | 13 |
| 8 | Panjsher | Bazarak | 26 | 6 | 45 | 39 | 12 |
| 12 | Paktya | Gardez | 25 | 4 | 39 | 43 | 11 |
| 11 | Ghazni | Ghazni | 22 | 5 | 27 | 44 | 13 |
| 25 | Paktika | Sharan | 20 | 1 | 26 | 38 | 12 |
| 5 | Logar | Pul-e-Alam | 20 | 0 | 31 | 42 | 7 |
| 15 | Badakhshan | Faiz Abad | 18 | 10 | 26 | 35 | 2 |
| 19 | Samangan | Aybak | 12 | 14 | 12 | 21 | 3 |
| 1 | Kabul | Kabul | 11 | 3 | 22 | 17 | 2 |
| 22 | Daykundi | Nili | 11 | 0 | 23 | 21 | 2 |
| 9 | Baghlan | Pul-e-Khumri | 10 | 9 | 8 | 20 | 5 |
| 29 | Badghis | Qala-e-Now | 10 | 3 | 17 | 16 | 3 |
| 3 | Parwan | Charikar | 10 | 2 | 19 | 10 | 9 |
| 16 | Takhar | Taloqan | 9 | 9 | 8 | 21 | 1 |
| 2 | Kapisa | Mahmud-e-Raqi | 9 | 0 | 18 | 11 | 5 |
| 28 | Faryab | Maymana | 8 | 5 | 12 | 17 | 1 |
| 20 | Sar-e-Pul | Sar-e-Pul | 7 | 5 | 10 | 15 | 0 |
| 17 | Kunduz | Kunduz | 6 | 5 | 8 | 12 | 0 |
| 24 | Zabul | Qalat | 4 | 0 | 13 | 5 | 0 |
| 27 | Jawzjan | Shiberghan | 3 | 3 | 5 | 5 | 0 |
| 18 | Balkh | Mazar-e-Sharif | 2 | 3 | 3 | 5 | 0 |
| 30 | Hirat | Hirat | 2 | 0 | 5 | 1 | 0 |
| 13 | Kunar | Asad Abad | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 |
| 23 | Uruzgan | Tirin Kot | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 |
| 31 | Farah | Farah | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 32 | Hilmand | Lashkar Gah | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 33 | Kandahar | Kandahar | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 26 | Khost | Khost (Matun) | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 7 | Laghman | Mehtarlam | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 6 | Nangarhar | Jalalabad | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 34 | Nimroz | Zaranj | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |

**Major Cities Monthly Snow Cover in Winter (%)**




**Major Cities Winter Season Snow Cover (%)**




**Datum/projection:** WGS84/Geographic
**Data Source:** NSIDC, AGCHO

**Disclaimer:** iMMAP Afghanistan is funded by the U.S. Agency for International Development (USAID). The boundaries, names, and designations used on this map do not imply official endorsement or acceptance by iMMAP or USAID. All information displayed is the best available at the time this map was produced.
**Feedback:** afghanistan@immap.org
**Date Created:** 18/Nov/2020

دریم شکل: افغانستان لپاره په منځنی کچه د کلنی او میاشتنی واورې او کنګل پوښښ

ژمنی مرستي ته د وضعیت پر بنسټ نه بلکي د اړتیاوو پربنسټ لومړیتوب ورکول کیږي. د هر ولایت په کچه اړتیاوې لاندي مواردو پر بنسټ دي:


الف. د ژمي پرمهال د اقلیمي شرایطو شدت
ب. له عواملو سره د خلکو د مخ کېدو کچه
ج. د وګړ د میزان کچه چي عناصرو یې د مخ کېدو اټکل کېږي

د دري پارامیټرونو مطابق، ولایتونه د لومړیتوب 1، لومړیتوب 2 او د لومړیتوب 3 ولایتونو پر بنسټ ډلبندي کېږي.

| لومړیتوب | د ولایتونو نومونه | ټولټال |
|---|---|---|
| اول لومړیتوب | بامیان، دایکندي، غزني، غور، کابل، لوګر، نورستان، پکتیکا، پکتیا، پنجشیر، پروان، زابل، کندز او وردګ<br><br>ولسوالی<br>بدخشان – کوهستان، تګاب، وردوج، زیباک<br>هلمند – بغران<br>سمنګان - روی دو آب<br>سرپل – کوهستانات<br>بادغیس - جوند | 14 ولایتونه<br><br>ب 2 لومړیتوب کي له 5 ولایتونو څخه 8 ولسوالی |
| دویم لومړیتوب | بدخشان، بادغیس، فاریاب، سمنګان، سرپل، تخار، هلمند | 7 ولایتونه |
| دریم لومړیتوب | کاپیسا، هرات، ارزګان، بغلان، خوست، بلخ، جوزجان، کندهار، کنړ، فراه، لغمان، نیمروز، ننګرهار | 13 ولایتونه |
| ټولټال | | 34 ولایتونه |

څلورم شکل: لومړني ولایتونه

## 3.3 د سرچينو طرح کول




**پنځم شکل؛ د سرچينو طرح**

د کلسټر تفصیلي پلانونه دلته د 3،4 برخې لاندې د لاسرسي او بودیجې لنډیز سره په لاندې توګه وړاندې کیږي.

| Cluster | PiN | Planned Reach (Individuals) | Fundings Requirement (USD) | Budget Available (USD) | Funding Gap (USD) |
|---|---|---|---|---|---|
| **EiEWG** | | 212,338 | $ 3.2M | 0 | $ 3.2M |
| **ESNFI** | 6,482,027 | 725,050 | $ 27M | $ 27M | 0 |
| **FSAC** | 12,135,819 | 9,175,669 | $ 266M | $ 266M | 0 |
| **Health** | - | 1,000,000 | $ 7.5M | $ 2.5M | $ 5M |
| **Nutrition** | - | 72,920 | $ 3.4M | $ 2.4M | $ 1M |
| **Protection** | - | 900,000 | $ 18M | $ 2.1M | $ 15.9M |
| **WASH** | - | 100,000 | $ 4M | 0 | $ 4M |
| **Total** | - | - | $ 329.1M | $ 300M | $ 29.1M |

شپږم شکل: د کلسټر رسیدګی او د بودیجې وېش

*FSAC 46.2 میلیونه ډالره اضافه بودیجه لري چې پورته نه ده ذکر شوی.

## 3.4 د سرچینو د کمښت لنډیز

### FSAC

**9,175,669**

Assistance equiv. to 4-months food ration and animal feed for livestock.

USD 267M required for food and livestock support.

### HEALTH

**1,000,000**

Emergency health services through mobile & static health facilities. Referral services to district, provincial and regional hospitals.

USD 7.5M required for health-related assistance.

### ES/NFI

**725,050**

Heating and fuel assistance, winter clothes, blankets, shelter repair and rental support.

USD 27M required for ES/NFI winter assistance.

**شکل 7؛ د روغتیا، بیړني حالت سرپناه او غیرغذايي توکي او د FSAC**

### NUTRITION

**72,920**

Treatment of SAM and MAM, winterization kit for PLWs Winter Clothing kit.

USD 3.4M required for nutrition services.

### PROTECTION

**900,000**

Dignity kit distribution. Winterization kit for children and family.

USD 18M required for protection activities.

### WASH

**100,000**

WASH package, WASH NFI and hygiene promotion.

USD 4M required for wash assistance.

**اتم شکل: تغذیه، خوندیتوب او د اوبو حفظ الصحي بودیجوي تشه**

**EIEWG**

**212,338**

Heating and insulations for
classrooms and winter clothes
for scool age children

USD 3.2M required for
education support.

**شکل 9؛ په بېړنیو حالتونو کې د زده کړې کاري ډلې بودیجې**

## 3.5 د کلسټر لومړيتوب بندي

هر اړوند کلسټر خپل خورا بېړنی فعالیت/فعالیتونو ته لومړیتوب ورکوي چې د ژمي موسم کې چمتو شویدي. دا تګلاره یو لړ حل لارو ته لومړیتوب ورکوي لکه، په کافي سرپناه، بخاری او غیرغذایي توکي، ژمنی البسه، د خوراکي توکو مرسته، د څارویو خوندیتوب، نظافت او کافي درمل او د روغتیایي توکو اکمالات. هر کلسټر ژوند ژغورلو ته لومړیتوب ورکوي، پداسې حال کې چې په ورته مهال کې د اوږدمهاله دوامداره سرپناه حل لارو لپاره قوي ژمنې ته اړتیا لري چې له اغېزمنو کورنیو سره خپل ځان بسیاینې رسېدو کې ورسره مرسته کوي. دا موارد دلته په 3،4 برخه کې ذکر شویدي.
دوامداره نوښتګرې طریقې چې کاري شریکان هڅوي ترڅو "پاتې کېدو او رسېدو" ته اړتیا ولري د دوامداره او بې خنډه بشردوستانه لاسرسي سره نږدې اړیکې ولري، د بسپنه ورکوونکو څخه کافي او د وړاندوینې وړ سرچینې او په هغو سیمو کې د اړینو کارمندانو ساتلو وړتیا، چې اړتیاوې خورا لوړې دي.

## 3.6 د کلسټر د مرستې موډلونه

پدې پلان کې تشریح شوی ځواب به د جنس، نغدي او کوپوني مرستې د یو ترکیب له لارې وړاندې شي. ډیری کلسټرونه د نغدي مرستې ځنې پروګرامونه جوړوي، مګر کېدای شي دا د حرکت محدودیتونو یا د هر ډول اکمالاتو لپاره د پایپ لاین خنډونو په صورت کې ګام پورته کولو ته اړتیا ولري. هرکله چې امکان ولري، ژمنی نغدي مرستو ته باید لومړیتوب ورکړل شي، د ګټه اخیستونکي د زیان منني محتوا مطابق، د فعالو بازارونو نږدېوالی او د اړتیا وړ ژمنیو توکو ته لاسرسی. نغدي او کوپوني مرستې دا ظرفیت لري چې بشرپالو سره مرسته وکړي چې ډیری زیان منونکو خلکو ته د ژوند ژغورنې دوامداره مرسته چمتو کړي او هغوی ته اضافه انتخاب او انعطاف مننه وړاندې کړي. په هر حال، څرنګه چې د غیر نغدي مرستې پروګرام جوړولو سره، دا مهمه ده ترڅو له نغدي مرستې سره تړلي خطرونه لاندې مواردو پواسطه لږوالی ومومي؛

الف. ښه پلان جوړونه، د امکاناتو ارزونې، د مارکېټ نظارت او د خطر د لېږد تحلیل

ب. ډاډ ترلاسه کول چې کارکوونکي د نغدي یا کوپوني مرستې موډلونو د تطبیق پام کې نیولو سره وروزل شي

ج. د طرزالعملونو او سرچینو اضافي او په منظمه توګه چک کول

د. له کارکوونکو/کاري شریکانو، ونډه اخیستونکو، او تمویل کوونکو سره غوره مستند شوي-اړیکو ته لومړیتوب ورکول

ه. د وېشلو پرمهال د احتیاطي تدابیرو تطبیقول ترڅو پرسونل، کاري شریکان او ګټه اخیستونکي په کرونا وبا د اخته کېدو خطر لږوالی ومومي

و. د امنیت په اوسني وضعیت کې، دا مهمه ده چې کاري شریکان نغدي یا کوپوني مرستې په پام کې نیولو سره د شته او احتمالي پروژې موقعیتونو د امنیتي خطر دوراني ارزونې ترسره کړي او د خوندیتوب او امنیت د محتوا-ځانګړي سرچینې چمتو کړي

ز. څو سکتوري اړتیاوې په هراړخیز ډول وارزول شي ترڅو نغدي مرستې له ټاکل شوي هدف څخه ونه لېږدول شي

## 3.7 د معیاري غبرګون بستې

د معیاري غبرګون بسته د لړترلړه مرستندویه توکو یوه مجموعه او خدمتونو ته د لاسرسي کچه ده کوم چې باید د کورنۍ په کچه وړاندې شي، د یوې ارزونې پر بنسټ چې یوه کورنۍ د ژمې موسم سره د مبارزې لپاره ورته اړتیا لري. دا یو لړترلړه بسته ده چې د بېلابېلو ډلو متنوع اړتیاوې او ځانګړي شرطونه په بشپړ ډول پام کې نه نیسي، او له همدې کبله د بستې وړاندې کول باید په کافي اندازه باید په پام کې ونه نیول شي چې د لازیاتو تخنیکي ارزونو څخه پرته تولې اړتیاوې په ګوته کړي. د غبرګونونو د لړترلړه کچه چې باید هر کلستر پواسطه وړاندې شي لاندې تشریح شویدی.

| Food Security | Health | Nutrition | ES-NFI | WASH | Protection | Education |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 months Food assistance | Emergency health services through mobile & static health facilities | Treatment of SAM and MAM | Heating/Fuel assistance | WASH Package | Dignity kit distribution | Heating of classrooms |
| Livestock protection package | | Winterization kit for PLWs | Blanket Package | WASH NFI | Winterization kit for children and family | Winter clothes for school aged children |
| | Referral services to district, provincial and regional hospitals | Winter clothing kit | Standard winter clothing package | Family hygience kit | | Hand washing stations, drinking water, soap |
| | | | If required<br>Shelter Repair/ Upgrade | Safe drinking water by tankering or water treatment kits | | |
| | | | Rental assistance, Winterised kit as appropriate | | | |

لسم شکل: د کلستر غبرګون معیاري بستې

## 3.7.1 په بېړنیو حالتونو کې زده کړه

| اوسنی ظرفیت (امریکایي ډالر) | د هدف وړ نفوس |
|---|---|
| **0** | **212,338** |
| **د بودیجې تشه (امریکایي ډالر)** | **د اړتیا وړ بودیجه (امریکایي ډالر)** |
| **3.2M** | **3.2M** |

### مهمي سکټوري ستونزې او زیان منني

الف. د ښوونځي د ضایع شوي مودې بشپړولو لپاره، ماشومان به د راتلونکي ژمي په جریان کې خپلو درسونو ته دوام ورکړي.

ب. مونږ باید ډاډ ترلاسه کړو چې ماشومان ګرم جمپرونه، بوټان، جرابې، خولی/ټیکري او دستکشي ولري.

ج. د ټولنې پربنسټ زده کړې ټولګي بخاریو او تېلو ته اړتیا لري ترڅو زده کړې لپاره ماشومان ګرم وسائل شي.

### د ژمي پرمهال د لومړني ځواب ورکولو فعالیتونه

الف. ماشومانو لپاره د ژمنی چمتووالي چمتو شوي کیټونه
ب. د ټولنې پر بنسټ زده کړې ټولګیو لپاره د بخاریو او لرګیو (سون توکو) چمتو کول

### د معیاري ځواب ورکولو بستې

الف. ژمني جامې

ب. جمپر

ج. جرابې

د. جاکټ

ه. ژمنی شال

و. ژمنی خولی

ز. بوټانژمنی دستکشي

ح. د پورتنیو تجهیزاتو ځای پرځای کولو لپاره بکسه

د ښوونځي عمر لرونکي هر ماشوم لپاره د ژمنی البسي لګښت 40 امریکایي ډالر) دی

### ننګوني، خطرونه، او محدودیتونه

الف. د کرونا وبا، امنیت او د نورو خنډونو لکه د پولو تړل کېدو له امله د نړیوال او سیمه ییز لوژستیکي چارو پروړاندې خنډونه

ب. ژمنی چمتووالي لپاره د ذخیرې او تصدیق شوي بودیجې نشتون

## 3.7.2 د بېړني حالت سرپناه او غیرغذایي توکي

| اوسنی ظرفیت (امریکایي ډالر) | د هدف وړ نفوس |
|---|---|
| 27M | 725,050 |
| د بودیجې تشه (امریکایي ډالر) | د اړتیا وړ بودیجه (امریکایي ډالر) |
| 0 | 27M |

### مهم سکتوري ستونزې او زیان منني

الف. په دوامداره توګه د نړیوالو ځواکونو له وتلو څخه وروسته په افغانستان کې جګړې زیاتوالی موندلی او د داخلي بېځایه کېدو لامل شویدی. تر اوسه، د 2021 کال له پیل راهیسې له 34 ولایتونو څخه په 31 ولایتونو کې 357000 خلک بېځایه شویدي. بېځایه شوي خلک د ژمي موسم پر مهال د ژمي له سختې هوا سره مخ دي.

ب. د 2021 کال د نوامبر له نیمایي راهیسې، احتمال لري چې حاد تنفسي ناروغۍ، د سږو پړسوب، او په مستقیمه توګه د یخ له امله د مړینې شمېر کې ډېروالی راشي. په ډېریو قضیو کې دا به د ناکافي فزیکي سرپناه او د شخصي عایق نشتوالي ته د منسوب وړ وي.

ج. د کرونا وبا نه یواځې د خلکو فزیکي هوساینې ته مګر همدارنګه د هغوی اقتصادي هوساینې ته هم ګواښ دی. تمه کېږي چې ګڼ شمېر خلک د کرونا وبا د اقتصادي پایلو له امله د معیشت له لاسه ورکولو پواسطه په منفي توګه اغېزمن شي. لدې کبله، کلستر به هم خپل د ژمني چمتووالي پروګرام وغځوي تر څو ډېرو زیان منونکي خلکو ته سون توکي، ژمنۍ البسه، د سرپناه د عایق مرستې چمتو کړي ترڅو هغوی سره مرسته وکړي چې د ژمي راتلونکي موسم سره مبارزه وکړي. هغو کورنیو ته باید له ژمنۍ مرستې سره لومړیتوب ورکړل شي چې خطر سره مخ دي ترڅو تودوخې/سون توکو پرځای د خځلو څخه ګټه اخیستل او هغوی له تنفسي ناروغۍ چې احتمال لري کرونا وبا سره تړلي خطرونه ګړندي کړي، لړ.والی ومومي.

د. څرنګه چې په افغانستان کې 90 سلنه خلک په غربت کې ژوند کوي، د خپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره د ورځې له 2 امریکایي ډالرو څخه لږ پیسې ترلاسه کوي، چې د ژمي د سخت ژمي په ګډون له ناځاپي شاکونو سره د مبارزې وړتیا ډېر ضعیف دی. ډېر داخلي بېځایه شوي کسان له مناسبو جامو څخه پرته له خپل کورڅخه تښتېدلي او په لنډمهاله سرپناوو کې مېشت دي چې د هغو عناصرو د حفظ الصحې، محرمیت او خوندیتوب وړتیا نلري چې د باران، واورې او تودوخې له امله خورا زیانمن کېږي. د ارزونې راپورونه په ډاګه کوي چې 25 سلنه داخلي بېځایه شوي کورنۍ اوسمهال په عمومي مرکزونو، لنډمهاله سرپناه، پرانیستې فضا، خیمو، او ضعیف انتقالي سرپناه کې مېشت دي.

ه. تر 5 میلیونه ډېر داخلي بېځایه شوي خلک کوم چې له 2012 کال راهیسې بېځایه شویدي په ښاري او کلیوالي غیر رسمي مېشت ځایونو کې په غیر-معیاري سرپناوو کې ژوند کوي چې محرمیت او خوندیتوب نلري؛ ډېره ګڼه ګونه؛ او د تهویې سېستم یې ضعیف دی. شته غیر رسمي مېشت ځایونه د مېشت کېدو مناسب پلان او خدمتونو ته متمرکز لاسرسی نلري لکه تودوخه، انرژي، خوندي اوبه، او د حفظ الصحې آسانتیاوې. د کورنیو د شمېر ډېروالي له امله چې د ژمي موسم لپاره په کافي اندازه چمتوالی نشي نیولی، د محدودو سرچینو شتون له امله، بشردوستانه ادارو ته په کلکه سپارښتنه کیږي چې د لومړنیو معیارونو په پام کې نیولو سره، له ژمنیو مرستو څخه د ګټه اخیستونکو په ټاکنه کې د زیان منني معیارونو باندې د نمرې ورکولو سېستمونه پلي کړي چې د کلستر د معیار لومړیتوب لخوا وړاندې کېږي.

و. د ارزونې راپورونه څرګندوي چې په تېر ژمي کې داخلي بېځایه شوي کورنیو کمپلو او سونتوکو ته محدود لاسرسی درلود. د داخلي بېځایه شویو کسانو 51 سلنه یې له خځلو (کاغذ، پلاستیک، کارتن، او داسې نورو) او لرګیو، بوټو څخه د خپلو ځانونو تودولو لپاره د اصلي سرچینې په توګه ګټه اخلي؛ د داخلي بېځایه شویو کسانو 60 سلنه یې راپور ورکړی چې د کس په سر له یوې کمپلې څخه لږ په اختیار کې لري.

د پولو د تړلو له امله وارداتي اکمالاتو کې د خنډ احتمال شتون لري چې کیدای شي په تدارکاتو کې د ځنډ لامل شي، د ژمي د مهمو مرستندویه توکو له مخکې څخه ځای پرځای کول، یا په ناوړه حالتونو کې، د پایپ لاین پرې کېدو له امله د ژوند ژغورنې مرستې بندې شي.

ز. په افغانستان کې، د اټکل له مخې د کورنۍ هوا ککړوالی (HPC) هر کال د 27000 کسانو د مړینې لامل کېږي، پداسې حال کې چې د چاپېریال (بهرنۍ) د هوا ککړوالی هر کال شاوخوا د 11000 کسانو د مړینې لامل کېږي. ستونزه په ژمي کې په ځانګړې توګه شدید وي ځکه زرګونه کورنۍ تودوخې لپاره پخپلو بخاریو کې پلاستیک، د موټر ټایرونه او خام د ډبرو سکاره سوځوي. په تېر ژمي کې 60 سلنه کورنیو د خپلو سرپناوو د تودولو توان نه درلود چې 30 سلنه کورنۍ د پلاستیک او نورو مضره توکو سوځولو ته اړ کېږي. ښځې او ماشومان په ځانګړي توګه د کور د هوا ککړتیا خطر سره مخ دي ځکه دوی د نارینه وو په پرتله په کور کې ډېر پاتې کېږي.

### ژمي پرمهال د مرستې وړاندې کولو لومړني فعالیتونه

الف. **ژمنی البسه او کمپلې؛** په سړه هوا کې، کله چې د تودوخې درجه له صفر څخه ښکته شي، هغه خلک چې د یخ پروړاندې کافي خوندیتوب نلري په یوه ورځ کې به خپل ژوند له لاسه ورکړي. سرببېره پردې، باران او شمال له بدن څخه حرارت لېږدول زیاتوي. له همدې امله، ژوندي پاتې کېدل ډېری وخت د غیرغذایي توکو وېش ته لومړیتوب ورکولو سره تړاو لري ترڅو د تودوخې غوره هوساینه وړاندې شي. د بدن اصلي تودوخې ساتلو لپاره، د ژمي مناسبه البسه او کمپلې باید په ځانګړي توګه هغو کسانو لپاره چې ځانګړې اړتیاوې لري، ماشومان، او لوړعمر لرونکي او مزمنو ناروغانو یا هغو لپاره چې محدود حرکت لري چمتو شي ترڅو د بدن شاوخوا نږدې ځایونه ګرم وساتل شي. د ژمي موسم کې د ژمني چمتووالي احتمالي ټولګي هم باید په پام کې نیول شي، پدې معنی چې د ښوونځي عمر لرونکي ماشوم به ګرمو جامو ته اړتیا ولري ترڅو د تودو ټولګیو حرارت هم وساتل شي. د افغانستان د سرپناه کلستر پر بنسټ د هرې کورنۍ د ژمنیو جامو کیټ 65 امریکایي ډالر ارزښت لري.

ب. **د بېړني سرپناه ښه والی:** چېرته چې د خیمو یا نورو لنډمهاله سرپناوو څخه ګټه اخیستل ناشونی وګڼل شي او د نورو اختیارونو د محدودیت له امله، د تخریب شویو خیمو بدلول، د بیړني حالت سرپناه څخه کلک نظارت اړین دی چې د شمال زور په پام کې ونیول شي، د سرپناه شاوخوا د اوبو وتلو لارې چمتو شي ترڅو د سطحې اوبه خپل مسیر ته لاړ شي او چېرته چې امکان ولري د ځمکې ساحه پورته کړي ترڅو د سطحې د اوبو ننوتلو څخه مخنیوی وکړي.

ج. د ځمکې (فرش) عایق او بستر ځمکې ته د تودوخې له لاسه ورکولو مخنیوي لپاره ډېر مهم دی او د یخ موده کې له ژوندي پاتې کېدو سره مرسته کوي. یو ژمني کېټ چې چمتو کېږي باید بېلابېل توکي پکې شامل وي لکه: د خوب عایق لرونکي توشکې (چې د هیلي هینسن سایز سره تړاو لري)، د تودوخې پروړاندې مقاومت لرونکی تخته 1 دانه (د جامد/مایع سونتوکو بخارۍ ځای پرځای کولو لپاره)؛ د تودوخې پروړاندې مقاومت لرونکی لستونۍ 1 دانه (د خیمې له دیوال څخه د دودکش تېرولو لپاره). وروستني توکي په خیمه کې د ننه تیلي/ګازي بخاریو کارولو لپاره چمتو شویدي.

د. **په ضعیفو شرایطو کې د سرپناوو ترمیم/ښه والی؛** د تودوخې له لاسه ورکولو مخنیوي لپاره عایق ډېر مهم دی او د ژمي جریان کې به له ژوندي پاتې کېدو سره مرسته وکړي. سرپناه ته د یخې هوا راننوتلو څخه مخنیوی د دروازو، کړکیو، عایق لرونکي ښیښې، پلاستیک، ترپال، چمتو کولو پواسطه بندېدای شي ترڅو د سرپناه د تودوخې له لاسه ورکولو او د یخې هوا داخلېدو څخه مخنیوی وشي. همدارنګه کلستر به د ژمې له رارسېدو څخه مخکې د سرپناه عایق کولو او د هغو کسانو د سرپناوو ترمیم ته لومړیتوب ورکوي کوم چې د اوسنیو سېلابونو له امله یې کورونه زیانمن شوي یا تخریب شویدي.

ه. **د کرایې اړوند مرسته:** دا موډل به هغو کسانو لپاره وسیله وي کوم چې د محدودیتونو له امله یې د خپلو لومړنیو اړتیاوو (کرایه، خوراکي توکي او نور) پوره کولو لپاره د کافي عاید ترلاسه کولو وړتیا یې له لاسه ورکړې وي. کرایي لپاره نغدي مرسته باید هر زیانمن شوي کورنیو ته چمتو شي چې په لوړ ارتفاع لرونکي سیمو کې موقعیت لري او هغوی چې د ښار مرکزونو کې ژوند کوي ترڅو هغوی په ژمي کې خوندي سرپناه ته لاسرسی ومومي. د دې موخه دا دی ترڅو د مبارزې د تګلارو منفي اغېزو ته لږ.والی ورکړي او د زیان منونکو کورنیو خوندیتوب او وقار پیاوړی کړي او زیانمن شویو کسانو لپاره د دندې خوندیتوب ډاډمن شي. د بېړني حالت کې د سرپناه او غیرغذایي توکو کلستر لپاره د کرایي نغدي مرسته هرې کورنۍ لپاره د یوې میاشتې مرستې لګښت لږ.ترلږ.ه 75 امریکایي ډالر ټاکل شویدی او مرسته باید لږ.ترلږ.ه 3 میاشتو لپاره دوام ولري. لومړي قسط څخه تر 12 میاشتو پورې د انتقالي سرپناه حل لارې په توګه غځول به د کورنۍ اړتیاوو په اړه د تازه معلوماتو او د کاري شریک د بودیجې امکاناتو پر بنسټ وي.

و. **د بخاریو او سون توکو مرسته؛** د سرپناه ټول ډولونه، د شته جوړښتونو په ګډون به د ژمي جریان کې ګټه اخیستلو لپاره د تودوخې یوې تګلارې لپاره اړتیا ولري. غبرګون باید د تودوخې اختیارونه، د اړتیا وړ تېلو اکمال او د سرپناه د اوسېدونکو خوندیتوب په پام کې ونیسي. د تودوخې تجهیزاتو (بخارۍ) اوبلن ګاز او سون توکي باید په غیرخوندي ډول ونه کارول شي چېرته چې د تودوخې لپاره ترټولو خوندي مواد د لاسرسي وړ او منل شوي وي. چېرته چې د تودوخې شته سېستمونه ناکافي وګڼل شي، کېدای شي د انفرادي برېښنایي بخاریو یا د بوتلي ګاز واحدونو چمتو کولو له لارې د تودوخې اضافي وسایل چمتو شي چې د کور دننه کارولو لپاره تصدیق شوي وي که چېرې بوتلي ګازي بخارۍ د خوندیتوب اضافي تجهیزات ولري. د ډبرو سکاره، د سون لرګي، مایع ګاز (نغدي او غیر نغدي) مرستې چمتو کول په ژمني چمتووالي کې یو اساسي فعالیت دی. د تېر کال له وېش-مخکې نظارت کولو کې د ځینو ستونزو راپور ورکړل شویدی – د توکو کیفیت، د نرخونو لوړوالی، او د تدارکاتي پروسې ننګونې یې عمده ستونزې دي – اوس هم پاملرنې ته اړتیا ده او باید د ځواب ورکولو پلان جوړولو پرمهال نوموړي ستونزې باید په پام کې ونیول شي. د هرې کورنۍ د تودوخې/تېلو د مرستې لګښت 200 امریکایي ډالر ټاکل شویدی ترڅو د ګازو یوه ډبه یا بخارۍ، یا 180 کلیو ګرامه لرګي یا مایع ګاز وپېري. پر بخاریو د پخلي او تودوخې کارونه باید په جلا توګه پام کې ونیول شي، او د اور د خطر د لږ.والي اړتیاوو ته باید پاملرنه وشي. لوګی د تنفسي او سترګو ناروغیو یو عمده لامل ګڼل کېږي.

## د مرستې معیاري بستې

الف. د ژمي له رسېدو څخه مخکې د سرپناه بېړنۍ مرسته:

الف. د تخریب شویو خیمو بدلول

ب. د سرپناوو عایق کولو لپاره د توکو، وسایلو، او تخنیکي ملاتړ چمتو کول

ج. هغو کسانو لپاره چې پرانیستي فضاء کې ژوند کوي اړتیا سره سم د بېړني وضعیت سرپناه کیټ

د. د سرپناه ترمیم/بښه والي معاري لګښت چمتو کول چې د کټګورۍ لپاره 300 امریکایي ډالر او B کټګورۍ تخریبونو لپاره 500 امریکایي ډالر اټکل شویدی.

ه. د ژمني کیټ چمتو کول هغو کسانو لپاره چې د بېړني حالت سرپناه کې مېشت باید د خوب لپاره عایق شوي فرشونه (د هیلي هینسن سایز مطابق)، د تودوخې پروړاندې مقاوم تخته یوه دانه (د ګازي/تیلي بخارۍ ځای پرځای کولو لپاره)، د تودوخې پروړاندې مقاوم لستونی یو دانه (له خیمې څخه د بخارۍ دودکش ایستلو لپاره) پکې شامل وي.

و. د کرایې د نرخونو ارزونو ترسره کول او د کرایې اړوند قراردادونو لاسلیک کول. دا مرسته باید 2020 کال سپټمبر میاشت څخه تر 2020 کال نوامبر میاشت پورې د ژمي سخت موسم څخه مخکې په 2020 کال ډیسمبر – د 2021 کال فبرورۍ پورې چمتو شي.

ب. د ژمي په جریان کې د بېړنۍ سرپناه مرسته:

الف. د نغدي/غیر نغدي ژمنی البسې کیټ چمتو کول چې د افغانستان د سرپناه کلسټر پواسطه هرې کورنۍ لپاره 65 امریکایي ډالر اټکل شویدی.

د نغدي / غیر نغدي کمپلو برستنو چمتو کول چې د افغانستان د سرپناه کلسټر پواسطه هرې ب. کورنۍ لپاره 40 امریکایي ډالر اټکل شویدی.

ج. د نغدي/ غیر نغدي 3 میاشتو لپاره د بخارۍ او تېلو چمتو کول چې هرې کورنۍ لپاره 200 امریکایي ډالر اټکل شویدی ترڅو یوه ګاز ډبه یا بخارۍ او 180 کلو ګرامه لرګي یا مایع ګاز وپېري.

د. درې میاشتو لپاره د کرایې مالي مرستې چمتو کول چې هرې کورنۍ لپاره د میاشتې لږترلږه 75 امریکایي ډالر درې میاشتو لپاره اټکل شویدی.

## ننګوني، خطرونه او خنډونه

الف. پر معیشت د کرونا اغېز له امله، 6،48 میلیونه خلکو څخه ډېر به بخارۍ/سون توکو ته لاسرسی نلري او نشي کولای چې له ژمي سره ځان عیار کړي، چې دوی د باران، واورې او یخنۍ ډېر زیان سره مخ کېږي. کېدای شي کورنۍ دې ته وهڅول شي چې د مبارزې منفي میکانیزمونه وکاروي چې ډېری وختونه د ماشومانو پر خوندیتوب جدي اغېزې ولري لکه اجباري کار او له وخت مخکې ودونه.

ب. د بودیجو تشخیص ته له وخت مخکې اړتیا لیدل کېږي ترڅو کاري شریکان وکولای شي ژمني توکي پلان، تدارک او ځای پرځای کړي او کېدای شي د پولو تړل کېدل او د کرونا وبا محدودیتونو په پام کې نیولو سره اکمالات وځنډېږي.

ج. اوږدمهاله کړنلارې چې کاري شریکان وهڅوي چې "دوامداره اکمالات وکړي" اړتیا ده چې هغوی دوامداره او بې خنده بشري مرستو ته لاسرسي ولري، له تمویل کوونکو څخه کافي او د وړاندوینې وړ سرچینې، او په هغو سیمو کې چې تقاضاوې لوړې وي اړین کارکوونکي ترلاسه کړي.

د. د کرونا وبا خپرېدل کېدای شي بشر پالونکي اغېزمن کړي یا یې کار وځنډوي چې ساحې ته لاړ شي او مرسته ورکړي – لکه ارزوني ترسره کړي، د ډله ییزو بحثونو ترسره کولو ناتواني، روزنه، د وېش بهیر ځنډېدل، او له وېش مخکې ګټور نظارت وکړي.

ه. کېدای شي زیانمن شویو سیمو ته د ګرځېندیز / د پولې تړل کېدو او همدارنګه د جګړې او طبعي ناورینونو په ګډون د نورو لاملونو له امله د اساسي مرستو لېږدول وځنډېږي.

و. نهادونه هم هڅول کېږي ترڅو لږ لګښت لرونکي یا وړیا مګر ډېر اغېز لرونکي اقدامونه په پام کې ونیسي: (a) چې یواځې د جامد سونتوکو د ترانسپورټ لګښتونو ته پوښښ ورکړي (هغو ځایونو لپاره چې لېرې یا رسیدل ورته ستونزمن وي، چېرته چې د ډېرو سکرو اکمالوونکو پواسطه ترانسپورتي لګښتونه ډېر لوړ وي)؛ (b) له اکمالوونکو سره خبرې اترې (یا بل ډول په ټولو مواردو کې چې عرضه کوونکي یو موقعیت ته د امنیتي ملاحظاتو له امله زړه نازړه وي د ډېرو سکرو لېږدولو لپاره شرایط رامنځته شي.

ز. امنیتي خنډونه کېدای شي زیانمن شویو خلکو ته د کاري شریکانو لاسرسی محدود کړي.

ک. د اړتیاوو د لوړې کچې له امله، کاري شریکان باید هڅه وکړي ترڅو په لومړنیو ولایتونو کې مرستې لپاره فرصتونه ډېر کړي چېرته چې ډېر خلک د واورې وربښت خطر سره مخ دي.

ل. مالي خنډونه د اغېزمنو خلکو د پېرلو وړتیا محدودوي. پدې کې د ژمنی چمتووالي توکي چې د خپل ځان تودوالي لپاره کارول کېږي، لکه جاکټونه، خولۍ، زېرپوشي، کمپلې. البته د داسې فعالیتونو په اړه باید د سیمه ییزو بازارونو یوې ارزونې پواسطه معلومات ترلاسه شي (چېرته چې ډېری احتمالي ګټه اخیستونکي معمولاً دا توکي پېري) او (له وېش څخه وروسته نظارت) کمپاین پواسطه تطبیق شي.

م. په افغانستان کې به د ژمي دوام یو فکټور وي. کاري شریکان هڅول کېږي ترڅو له نورو کلسټرونو سره اړیکه ولري او مقطعي اړتیاوو ته ځواب ورکولو لپاره اړوندو کلسټرونو ته راجع کړي.

ن. د کاري شریکانو، اړوند چارواکو ترمنځ د ګټه اخیستونکو د لېستونو نه شریکول، متقابل رجعت ورکول محدودوي چې کېدای شي ورته ګټه اخیستونکو لپاره د فعالیتونو تکرار لامل شي.

س. د دولتي او غیر دولتي وسله والو ډلو ترمنځ د جګړې له امله د ناامنۍ ډیروالی. ی

ع. د بودیجې تشه.

ف. د پلان جوړوني په کچه همغږي شتون لري – مګر په تطبیق کې یې همغږي شتون نلري (ساحه کې).

ص. د ژمنی چمتووالي راپور ورکول - په ټولییز ډول د ټولو سکټوري معلوماتو شاملول

ق. په ځینو زیانمن شویو سیمو کې د نه حاضرېدو له امله د کاري شریکانو د ځواب ورکولو وړتیا محدودیت.

ر. د بېړني حالت سرپناه او غیر غذایي توکو فعالیتونو کې د خوندیتوب اصلي جریان – داډ ورکوي چې سرپناوې ګټه اخیستو لپاره خوندي دي، په ډیزاینونو کې د جنسیت تفکیک او د معلولیت لرونکو خلکو لاسرسی په پام کې نیول شویدی.

ش. د ژمنی چمتووالي د ارزوني معیاري ابزارو او مرستو بستو کارول.

ث. کاري شریکان باید د معلوماتو خوندیتوب او شریکولو تړون او په ټولو کلسټرونو کې د مرستې وېش لپاره پر یو منظم مهالوېش هوکړه وکړي.

## 3.7.3 د خوراکي توکو خونديتوب او کرهنه

| اوسنی ظرفيت (امريکايي ډالر) | د هدف وړ نفوس |
|---|---|
| **312.2M** | **9,175,669** |
| **د بوديجې تشه (امريکايي ډالر)** | **د اړتيا وړ بوديجه (امريکايي ډالر)** |
| **0** | **266M** |

### مهمې سکتوري ستونزې او زيان منني

الف. د کوچني فارم لرونکو د خوراکي توکو ذخيرو ختمېدل

ب. د خوراکي توکو پر شته والي او لېرې ولسواليو کې د لاسرسي پروړاندې موسمي اغېزې

ج. د موسمي کارګرانو د تقاضا لږوالی

د. ښاري سيمو کې پر کمزوري معيشت د کرونا اغېز

### د ژمي پرمهال د ځواب ورکولو لومړني فعاليتونه

الف. د ژمني چمتووالی او د خوراکي توکو خونديتوب او د کرهنې کلستر ترمنځ د موخې وړ سيمو د عادي فعاليتونو بشپړتيا ترڅو د خوراکي توکو اړتياوو پوره کولو لپاره د ژمنی مرستې پلورلو انګېزه لږوالی ومومي

ب. د درېيم او څلورم پړاو زيان منونکو خلکو لپاره د خوراکي توکو مرسته

ج. ګوښه شوي / څاروي (رمه) لرونکي کورنيو لپاره د مالدارۍ خونديتوب بستې وېش

### د ځواب ورکولو معياري بستې

الف. د 2 دوره يي وېش له لارې څلور مياشتو لپاره د خوراکي توکو مرستې بسته؛ چې پدې بسته کې 46 کيلوګرامه اوړه، 4،5 کيلوګرامه غوړي، 8،4 کيلوګرامه حبوبات او يو کليوګرامه آيوډين لرونکي مالګه شامل دي

ب. د نغدي مرستې ترلاسه کوونکي ته به څلورو مياشتو لپاره هره مياشت 3400 افغانۍ ورکول کېږي

ج. د څارويو د خونديتوب بسته کې: د څارويو دانه 100 کيلوګرامه، 3 کيلوګرامه پروړه (د پروړي دانه)، د تودوخي له لاسه ورکولو درملنه، او د څارويو د تغذيې او ساتلو په اړه د غوره عملي کارونو روزنه شامل دي

### ننګوني، خطرونه او خنډونه

الف. د کرونا له امله د نړيوال او سيمه ييز لوژستيکي پايپ لاين خنډونه، او نور خنډونه لکه د پولو تړل کېدل

ب. په ځينو لېرې پرتو سيمو ولسواليو کې، په ځانګړې توګه د امنيتي ستونزو له امله د مالي خدمتونو چمتوکوونکو د ورتيا محدوديت

## 3.7.4 روغتيا

| اوسنی ظرفيت (امريکايي ډالر) | د هدف ور نفوس |
| --- | --- |
| **2.5M** | **1,000,000** |
| د بوديجې تشه (امريکايي ډالر) | د اړتيا وړ بوديجه (امريکايي ډالر) |
| **5M** | **7.5M** |

### مهمې سکتوري ستونزې او زيان منني

الف. مختل شوی او ضعيف روغتيايي سېستم او روغتيايي خدمتونه او د کوويډ-19 له امله نور خنډونه.

ب. د ور روغتيايي کارکوونکو ناکافي شمير

ج. په لېرې پرتو او سختو ځايونو کې د ژوند ژغورني او د ژوند اوږدمهاله روغتيايي خدمتونه د ژمي په سخت موسم کې محدودېږي.

د. لېرې والی، بند شوي سړکونه او سخته اراضي به د طبي وسايلو چمتو کول، نورو روغتيايي خدمتونو لپاره د شديد ناروغ راجع کول، او د روغتيايي کارکوونکو فعاليت تقريباً ناشونی کوي او د ژمي په جريان کې ننګوونکي وي.

ه. د تنفسي سېستم شديدي ناروغی په بېړنيو حالتونو او سړي هوا کې د ناروغتيا او مړينې عمده لاملونه دي. له پنځه کلن څخه ښکته ماشومانو ځني 25-30 سلنه مړينې د تنفسي ناروغيو له امله دي، چې د دغو مړينو 90 سلنه يې د سږو پرسوب له امله دي. د موسمي انفلونزا ويروس روغتون ته د مراجعي، بستر کېدو، او مړينې لامل کېږي او ماشومان او لوړ عمر لرونکي کسان ډېر زيانمن کېږي.

و. د ورځني واکسين د پوښښ کچې ټيټوالی او سړه هوا د شري رامنځته کېدو لامل کېږي

ز. په اوږدمهاله بېړنيو حالتونو کې نری رنځ (TB) يوه مهمه ناروغي ګڼل کېږي چېرته چې داخلي بېځايه شوي ټولنې په سړه هوا کې اوږدي مودې لپاره په ګڼه ګونه کې مېشت دي. دا ډول شرايط د سږو په نري رنځ(TB) د اخته کېدو لوړ خطر رامينځته کوي، کوم چې د ځاځکو له لاري ليږدول کېږي او په هغو ځايونو کې چې د تهويې وضعيت يې ناسم وي کېدای شي ډېر سرايت وکړي.

### د ژمي پرمهال د ځواب ورکولو لومړني فعاليتونه

روغتيايي کلسټر لپاره وقايوي او معالجوي روغتيايي خدمتونه يو مهم لومړيتوب دی. ترڅو چې وقايوي اقدامونه ترسره کېږي، د ژمي سخته هوا به د 2،5 ميلونه زيان منونکو کسانو پر روغتيا به جدي ناوړه اغېز ولري او د ځواب ورکولو وړتيا چې بايد په ګټوره توګه ځواب ورکړل اغېزمن کړي ترڅو روغتيايي خدمتونه مطلوب حالت ته ورسېږي. مهم لومړني اقدامات عبارت دي له:

الف. د حاد تنفسي ناروغيو يا انفلونزا په څېر ناروغی په ګډون د کرونا وبا نظارت کولو سره د ناروغيو نظارتي سيستم پياوړي کول.

ب. د شديدو حاد تنفسي ناروغيو لکه د سږو پرسوب او نورو مزمنيو ناروغيو د جدي قضيو کشف او مديريت په اړه د روغتيايي کارکوونکو روزنه.

ج. زيان منونکو ډلو لپاره د سيار روغتيايي خدمتونو وړاندې کول او عامې روغتيا وزارت سره مرسته کول ترڅو د روغتيايي سيار ټيمونو (MMT) فعاليتونه صعب العبور سيمو ته وغځوي.

د. روغتيايي مرکزونو ته د لابراتواري وسايلو په ګډون د تجهيزاتو او اکمالاتو چمتو کول.

ه. د انتي بيوتيک، نيبولايزر او د کيټونو په ګډون د نورو درملو او طبي تجهيزاتو ذخيره کول چې د اړوندو ناوړه روغتيايي شرايطو اداره کولو لپاره د طبي توکو سربېره د تنفسي سېستم ناروغيو مديريت کولو لپاره کارول کېږي.

و. د تنفسي ناروغيو لپاره د وقايې او لړوالي په اړه روغتيايي زده کړه او روغتيايي ښه والی د سړې هوا اړوند ناروغيو د ژر کشف او مديريت لپاره د روغتيايي وضعيت او د ناروغيو له بهير څخه نظارت کول.

ز. د خوراکي توکو، تغذيې او سرپناه/ غيرغذايي توکو په ګډون له نورو کلسټرونو سره پياوړي همغږي.

### د ځواب ورکولو معياري بستې

الف. د روغتيايي پاملرنې په کچه د روغتيايي خدمتونو اساسي بسته او د ولسوالی، ولايت، او سيمه ييز روغتونونو په کچه د رجعت ورکولو خدمتونو چمتو کول.

ب. د ځواب ورکولو ډولونه به د روغتيايي سيار ټيم او د رښتيني روغتيايي تسهيلاتو له لاري وي.

### ننګوني، خطرونه او خنډونه

الف. د کوويډ-19 روانه ناروغي کوم چې د روغتيا نازک سېستم اغېزمن کوي

ب. د اساسي روغتيايي پاملرنې سېستمونو او خدمتونو خونديي ساتل

ج. د ناامنۍ او سخت ژمي له امله د روغتيا سيارو ټيمونو پر وړاندې د لاسرسي ستونزې

د. د اکمالاتو (د ځاني خونديتوب تجهيزاتو په ګډون) نشتوالی ترڅو په ژمي کې د روغتيايي خدمتونو وړاندې کول او د روغتيايي کارکوونکو خونديتوب ډاډمن شي

## 3.7.5 تغذیه

اوسنی ظرفیت (امریکایي ډالر)
**2.4M**

د هدف وړ نفوس
**72,920**

د بودیجې تشه (امریکایي ډالر)
**1M**

د اړتیا وړ بودیجه (امریکایي ډالر)
**3.4M**

### مهمې سکتوري ستونزې او زیان مننې

الف. د هیواد په ځینو سیمو کې د واورې او خامه سړکونو له امله د لارو بندیدو له امله فزیکي لاسرسی ستونزمن کیږي.

ب. د عادي خوارځواکو ماشومانو، شدید خوارځواکو ماشومانو، او امیندوارو او شیدې ورکوونکو ښځو لپاره د درملنې چمتو کول د تغذیې کلسټر لاندې یو مهم لومړنی فعالیت دی. که چیرې د ژمي موسم کې اړوند خدمتونه چمتو نشي، دا به د ماشومانو د تغذیې وضعیت لا خرابیدو، د ناروغیو زیاتیدو، او د مړینې کچې لوړیدو سره مرسته وکړي.

ج. سربېره پردې، امېندواري او شیدې ورکوونکې ښځې د شیدو تغذیې او د ژمي په جریان کې د نوي زیږیدلي کوچني او ماشوم تغذیې په اړه د میندو د ډله ایزو بحثونو غونډو لپاره د فعالیت ځای ته اړتیا ده.

د. له وخت مخکې ځای پرځای کول د ژمنیو توکو چمتو کول د عادي خوارځواکو ماشومانو او شدید خوارځواکو ماشومانو درملنې خدمتونو منظم او پروخت چمتو کولو لپاره خورا مهم دي.

### د ژمي په جریان کې د ځواب ورکولو لومړني فعالیتونه

الف. د عادي خوارځواکو ماشومانو درملنه

ب. د شدید خوارځواکو ماشومانو درملنه

ج. د شدید خوارځواکي او امېندوارو او شیدې ورکوونکو ښځو درملنه

د. د شیدې ورکوونکو ښځې، او د نوي زیږیدلي کوچني او ماشوم مناسب تغذیې او د غذایي رژیم فعالیتونو خوندیتوب، ښه والی او ملاتړ

### د مرستو معیاري بستې

الف. د هر ماشوم (مخکې چمتو شوي مرستندویه خواړه) د درملنې لګښت

ب. د هر شیدې ورکوونکې ښځې د AM-PLW درملنې لګښت (عالي حبوبات)

ج. د هر عادي خوارځواکي د خارج بستر ماشوم د درملنې لګښت

د. د هر شدید خوارځواکي بستر شوي ماشوم د درملنې لګښت

ه. د جامو کیټ

### ننګونې، خطرونه او خنډونه

الف. د بېلابېلو لاملونو له لکه د پولې تړل کېدل، د کرونا اغېزې، په نړیواله کچه د اکمالونکي د ناکافي وړتیا سره د درملیزو توکو لوړې تقاضا له امله د اکمالاتو پروخت رسیدو کې غیرمتوقع ځنډونه.

ب. د درې میاشتني توکو ذخیرې لپاره په ځینو روغتیایي مرکزونو کې د ذخیرې د مناسبو تسهیلاتو نشتون.

ج. د ناامنی، سختې اراضی یا د ژمي له امله ځینو ځایونو د لاسرسي ستونزه په ځانګړې توګه که چیرې د توکو استول د ناوخته رسیدو له امله وځنډیږي.

د. چیرته چې شدید خوارځواکي ماشومان بې درملنې پاتې شي د هغوی د تغذیې وضعیت به په شدیده توګه خرابیږي او په پایله کې له مخکې ضعیف روغتیایی سیسټم تحمیل کړي، په پایله کې د ماشومانو او شیدې ورکوونکو ښځې، د ناروغی او مړینې لامل کیږي. په ورته توګه، که چیرې ماشومان بې درملنې پاتې شي، دوی به په لا نورو ناروغیو اخته شي.

ه. د کرونا له امله په اکمالاتو او د خوراکي خدمتونو تقاضا کې لړوالی.

## 3.7.6 خوندیتوب

| اوسنی ظرفیت (امریکایي ډالر) | د هدف وړ نفوس |
|---|---|
| **2.1M** | **900,000** |
| د بودیجې تشه (امریکایي ډالر) | د اړتیا وړ بودیجه (امریکایي ډالر) |
| **15.9M** | **18M** |

### مهمې سکتوري ستونزې او زیان منني

الف. د راتلونکي ژمي میاشتو (د 2020 کال نوامبر – 2021 کال فبروري) کې دا ننګونو کې دا وړاندوینه شامله ده چې اوسمهال د زیان منني کچه به په استثنایي ډول لوړه شي، په ځانګړي توګه د ماشومانو او د هغوی د کورنۍ زیان مننه کوم چې د کرونا وضعیت څخه په پراخه کچه زیانمن شویدي. دا به کورنۍ اړ کړي ترڅو ژوندي پاتې کېدو لپاره د مبارزې په شدید منفي میکانیزمونو کې ښکېل شي.

ب. د خوندیتوب کلستر کاري شریکانو د راپوروتو پر بنسټ، له 3 داخلي بېځایه شویو یا راستنېدونکو څخه یې 2 کورنۍ د کرونا محدودیت او د کرونا ګرځبندیز له امله د کاري فرصتونو نشتوالي له امله زیانمن شویدي. وضعیت ته د ځواب ورکولو او د خوندیتوب خطرونو لړ.والي لپاره په ټولییز ډول 402564 کورنیو سره د ځانګړي اړتیاوو نقدي مرسته ترسره شي.

ج. په 5 ولایتونو کې د OXFAM وروستنۍ ارزونې پر بنسټ، د ګرځبندیز او په ښځو کې د دودیزو باورونو له امله، د جندر پر اساس تاوتریخوالي خطرونه له 51 سلنې څخه لوړ دي.

د. په راتلونکي ژمي کې د کرونا محدودیت په پایله کې او له اټکل شوي بېوزلۍ سره یوځای، جګړه او بېځایه کېدل به ځانګړو اړتیاوو ته د خلکو زیانمننې زیاتې کړي، او د منفي مقابلې د میکانیزمونو احتمال هم لوړوالی ومومي.

ه. اقتصادي ننګونې به افغانتسان کې ښځې او انجونې په نامتناسب ډول زیانمن کړي، له پخوا څخه سرچینو ته د ښځو او انجونو د لاسرسی او کنټرول محدودیت، په کور او ټولنه کې د جندر پراساس د تاوتریخوالي خطر لوړوالی مومي.

و. کورنیو لپاره اوسنی محدودیت او ګرځبندیزونه او اقتصادي ستونزې به په تدریجي ډول انجونو او هلکانو لپاره د ماشوم خوندیتوب ستونزې ډیرې کړي.

ز. په ټول افغانستان کې اقتصادي ننګونې ماشومان په نامتناسب ډول زیانمن کوي، ماشومانو او د هغوی کورنیو لخوا اقتصادي سرچینو ته لاسرسی محدودوي چې له مخکې څخه شتون درلود (لکه د مهارتونو روزنه)، په کورنۍ او ټولنه کې د منفي مقابلې میکانیزمونو خطر ته ډیروالی ورکوي.

ح. د تودو جامو او مناسبو جرابو په نشتون کې د ژمي اړوند ستونزو سره د ماشومانو د مخ کېدو خطر لوړوالی.

ط. تېرل شوي ښوونځي کېدای شي له انجونو او هلکانو څخه د ناوړه استفادې احتمالي خطر لوړ کړي او ښوونکي پواسطه ځانګړي پاملرنې ته د ماشوم ژغورلو لپاره د خوندي رجعت ورکولو لاسرسی لړ.والی ومومي.

### د ژمي پرمهال د ځواب ورکولو لومړني فعالیتونه

الف. د ماشومانو په ګډون د ځانګړي اړتیا لرونکو کسانو(PSN) پېژندل، او د هغوی د زیان منننې تصدیق.

ب. د انفرادي خوندیتوب مرستې (IPA) او اړمنو کسانو لپاره یو-ځل نغدي مرستې چمتو کول ترڅو د ژمي په جریان کې خپلې بېړنی اړتیاوې پوره کړیاضافي مرستو لپاره د خدمت چمتو کوونکي نورو نهادونو ته د اړمنو کسانو قضیو رجعت ورکول.

ج. د ښځو او انجونو اړتیاوو مطابق د کرونا د مخنیوي توکو په ګډون د ژمنیو توکو د کېټ وېش.

د. د مرستو په نورو سکتورونو کې د جندر پر اساس تاوتریخوالي موضوع ته اصلي مسیر ورکول، په ځانګړې توګه د حفظ الصحې کلسټر له لارې.

ه. د هرې کورنۍ ماشومانو لپاره د ژمني مناسب کېټ چمتو کول چې د مرستې معیاري بسته پکې شامله وي.

ز. هغو کورنیو لپاره د معلوماتي مشورې او حقوقي مرستې وړاندې کول چې د ژمي میاشتو کې د اخراج لوړ خطر سره مخ وي.

ح. د ځمکې پېژندنه، تخصیص او/یا د ملکیت سندونو چمتو کول ترڅو ژمني وضعیت سره د سرپناه ښه والې پانګونو څخه ملاتړ وشي.

### د مرستې معیاري بستې

الف. ښځو او انجونو لپاره د حفظ الصحې کېټ چمتو کول چې هر کېټ یې د بسته بندۍ، ټرانسپورت، ذخیرې، بارولو/تخلیه کولو او داسې نورو سره 28 امریکایي ډالر کېږ.ي.

ب. ماشومانو او کورنیو لپاره د ژمني کېټ خوندیتوب. له پورته ذکر شویو محتویاتو سره د هر ژمني کېټ ارزښت 45 امریکایي ډالر. لګښتونو کې بسته بندي، ترانسپورت، ذخیره، بارولو/تخلیه کول او داسې نور شامل دي.

### ننګونې، خطرونه او خنډونه

الف. د جګړې شدت کېدای شي د خدمتونو وړاندې کولو د مختل کېدو لامل او ګټه اخیستونکو ته لاسرسی محدود کړي او کېدای شي ځنې فعالیتونه وځنډوي.

ب. د ژمي پرمهال د جنډر-پربنسټ د تاوتریخوالي لوړ خطر او د قضیې مدیریت ځایونو ته د لاسرسي لړ.والی. د لېرې پرتو سیمو د طریقو زیاتوالي لپاره اړتیا په ګوته کوي. د ښځو او انجونو د حفظ الصحې کېټ نغدي مرستې اړتیا عملي شي ترڅو ټکنالوژیو او موبایل یا له لېرې لارې خدمتونو ته د ښځو لاسرسی لوړوالی ومومي.

ج. راتلونکي ژمي پرمهال د کرونا احتمالي نوې څپه به یوه بله ننګونه وي.

د. د ژمي جریان کې د بودیجو نشتوالی او همدارنګه د ذخیرې او آسانتیاوو نشتون.

## 3.7.7 اوبه، نظافت او حفظ الصحه

| اوسنی ظرفیت (امریکایي ډالر) | د هدف وړ نفوس |
|---|---|
| **0** | **1,000,000** |
| د بودیجې تشه (امریکایي ډالر) | د اړتیا وړ بودیجه (امریکایي ډالر) |
| **4M** | **4M** |

### مهمې سکټورې ستونزې او زیانمنني

الف. د جګړې یا واورې ښویدو له امله بېځایه کېدل د اغیزمنو خلکو حفظ الصحي اړوند ستونزو پروړاندې حساسیت رامنځته کوي چې د سخت ژمي سربېره کولای شي دوی د عامي روغتیا ارزښت (نس ناستی، محرقه، کولرا او داسي نور) د WASH اړوند ناروغیو خطر سره مخ شي.

ب. د سخت ژمي له امله نه لاسرسی یا د سختو واورو یا له امله د سړکونو بندېدو له امله فزیکي لاسرسی یا د واورې ښویدو له امله زیانمن شویو خلکو ته د WASH مرستې پرې کېدل چې د جګړې زیاتېدو یا طبعي ناورینونو لکه ژمي، زلزلې او داسې نورو له امله بېځایه شوي وي.

### د ژمي پرمهال د ځواب ورکولو لومړنی فعالیتونه

الف. د WASH توکو-حفظ الصحي کیټونو، په مهمو ځایونو کې د اوبو کیټونو او د حمام او تشناب کیټونو ځای پرځای کول چې احتمال لري د واورې ښویدني پواسطه د بې ځایه کیدو له امله زیانمن شوي وي.

ب. زیانمن شویو خلکو لپاره د ارزولو شویو اړتیاوو پر بنسټ د WASH توکو-حفظ الصحي کیټونو/ د اوبو کیټونو وېش.

ج. د حفظ الصحي ترویج چې مهمو وختونو کې صابون سره د لاسونو پرېمنځلو دوام باندې تمرکز کوي.

د. د ژمي پرمهال د جګړې یا ژمي له امله بېځایه/زیانمن شویو خلکو ته د اوبو رسول.

ه. زیانمن شویو خلکو ته د بېړني حالت د حفظ الصحي آسانتیاوو چمتو کول.

### د معیاري مرستې بستې

الف. د هدف وړ زیانمن شویو او بېځایه شویو خلکو پنځوس سلنه لپاره یې د WASH بشپړ بستې وړاندې کول (د اوبو رسول/د حفظ الصحي آسانتیاوي / د WASH کیټونه/ د حفظ الصحي ترویج) – انفرادي/40 امریکایي ډالر.

ب. د هدف وړ ټولو زیانمن شویو او بېځایه شویو خلکو لپاره د WASH /غیرغذایي توکو وېشل (د کورنی حفظ الصحي کیټونه، د اوبو کېټونه او داسې نور) – انفرادي/40 امریکایي ډالر.

ج. د هدف وړ ټولو زیانمن شویو او بېځایه شویو خلکو لپاره د حفظ الصحي ترویج (په مهمو وختونو کې په دوامداره توګه صابون سره د لاسونو پرېمنځلو لپاره د حفظ الصحي پیغامونه) – انفرادي/10 امریکایي ډالر.

د. د هدف وړ زیانمن شویو او بېځایه شویو پنځوس سلنه خلکو لپاره د څښاک خوندي اوبو چمتو کول (لاسي پمپ او څاه/ د ژورې څاه رغول/ترمیم، د اوبو ذخیره (چیرته چې ډیره اړتیا وي) او د اوبو تصفیه) – انفرادي/ 25 امریکایي ډالر.

ه. د هدف وړ زیانمن شویو او بېځایه شویو پنځوس سلنه خلکو لپاره د حفظ الصحي آسانتیاوو چمتو کول (جنډر سره مناسب د بېړني حالت تشناب او حمام ترڅو د زیانمن شویو خلکو روغتیا او د ښځو او انجونو حفظ الصحه خوندي پاتې شي) – انفرادي/ 20 امریکایي ډالر.

د WASH مرسته به په غیر نغدي ډول چمتو شي که څه هم پداسې حالاتو کې چې غیر نغدي و. مرسته امکان ونلري، له کوپون څخه ګټه اخیستل به پام کې ونیول شي.

ز. د WASHاړوند کلسټر تخنیکي لارښود مطابق په سړه هوا او کنګل کېدونکي وضعیتونو کې د WASH فعالیتونه.

### ننګوني، خطرونه او خنډونه

الف. د کلسټر اساسي پایپ لاین فعالول لپاره د بودیجې ته پروخت لاسرسی به پروخت ځواب ورکولو ته اجازه ورکړي – ځنډ شوي بودیجه کېدای شي د ژمي پرمهال تدارکات له ځنډ سره مخ کړي (سړک له امله د لاسرسي ننګوني).

ب. نا امني او د دولتي او غیر دولتي وسله والو ډلو ترمنځ د دوامداري جګړې زیاتوالی د بشرپالونکو لاسرسی محدودوي.

ج. د ژمني چمتووالي راپور ورکول – په ټولییز ډول د ټولو سکټوري راپوروںو شاملولو لپاره.

د. د سختي واورې یا واورې ښویدو له امله سړک ته لاسرسی.

ه. د کووېډ-19 د دلتا ډول څپه چې هره ورځ یې د نوي ناروغیو د پېښو زیاتېدو راپور ورکول کېږي د ټولنو زیانمننو ته شدت ورکوي.

و. د کووېډ-19 له امله کېدای شي حکومتونه د ټولني احتمالي بندیز هم اضافه کړي چې د ښوونځیو د تړلو سربېره کېدای شي د ګرځبندیز اقداماتو په صورت که به پر غبرګون اغېز وکړي – د ژمي جریان کې لا ورو یا وځنډېږي.

ز. د پلان جوړوني په کچه همغږي شتون لري – مګر د تطبیق په کچه ننګونکی دی (ساحه).

ح. له دولتي همکارانو سره د پروژې په مشری هوکړه لیک بیروکراتیک خنډونه - د پروژې بېروکراتیک خنډونه – سربېره پر دې د 2021 کال په نیمایي کې لا هم ټول لاسلیکونه د حکومت لخوا غیر حکومتي نهادونو قانون په اړه ډېر وضاحت ته په تمه دي.

ط. د بودیجې تشه – په ټولییز ډول له WASH سره د افغانستان د بشري مرستي پلان جوړوني بودیجې ټوله غوښتنه 23 سلنه (1،28 بیلیون امریکایي ډالر) دی چې د 2021 کال تر نیمایي پورې د 94 میلیون امریکایي ډالرو غوښتنه 20 سلنه تمویل شویدی.

# 4 د ژمنی چمتووالي تګلارې د طریقې پراختیا

د افغانستان حکومت په ټولیز ډول د ژمني چمتووالي غبرګون همغږي او مشري يې کوي. د داخلي بېځایه شویو کسانو ملي پالېسی مطابق، د ژمني چمتووالي فعالیتونه باید د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت/ د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو ریاست، د افغانستان د طبعي پېښو مدیریت ملي ادارې، اړوند ښکېل وزارتونو، او بشري نهادونو ترمنځ کوم چې په ټول هېواد کې زیانمن شویو خلکو ته ځواب ورکوي، همغږي او ترسره شي. دا تمه کېږي چې د ژمني مرستې د اړمنو خلکو په اړه معلومات به له یو لړ سرچینو څخه ترلاسه شي چې لاندې سرچینو ته محدود ندي:

الف. د ټولنې په کچه د اړیکې مرکزونه

ب. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت او د ولایت په کچه د افغانستان د طبعي پېښو مدیریت ملي اداره

ج د ولسوالۍ او ولایت په کچه دولتي ادارې

د. امنیتي ادارې

ه. بشري او پرمختیایي نهادونه

و. داخلي بېځایه شوي کسان پخپله، په نهاد کې دننه د اړیکې مرکز AWAAZ

ز. د کلسټر-داخلي رجعت ورکول

## 4.1 د همغږۍ پروسه

الف. د کډوالو او راستنېدونکو ریاستونو، بشري مرستو همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو اداره، د سیمه ییز کلسټر مشران، او بشرپالونکي کاري شریکان به د پورتنیو سرچینو پربنسټ معلومات راټولوي. وروسته به د ګډې ارزونې ټیمونه رامنځته کېږي ترڅو د زیانمن شوي خلکو اړتیاوې وارزوي. د اړتیاوو ارزونه به د پروګرام له پیل څخه مخکې د کاري شریکانو لخوا په ګډه تطبیق شي. ارزونې به د زون او سیمې په کچه د منظم عملیاتي همغږۍ ټیم (OCT) د بشري غبرګون ټیم (HRT) غونډو، او د زون په کچه د کلسټرونو له لارې، د بشري مرستو همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو اداره په همغږۍ او د دولت په همکارۍ همغږي کړل شي. د ژمنی چمتووالي د ارزونې ابزار معیاري ابزار دي چې باید د موسمي مرستې اړتیا په اړه د معلوماتو راټولولو لپاره وکارول شي.

ب. کلسټرونه به په مستقیمه توګه د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست، افغانستان لپاره د طبعي پېښو د مدیریت ملي ادارې (د حکومت په استازیتوب) سره نږدې اړیکه ولري ترڅو د ولایت په کچه ټولیز غبرګون همغږي کړي. د کډولاو او راستنېدونکو چارو ریاست به والیانو او نورو نهادونو ته د ځواب ورکولو او تعقیب په اړه منظم معلومات وړاندې کوي ترڅو ننګونې او اندېښنې په ګوته شي. د زون په کچه کلسټرونه به د بشرپالنې کاري شریکانو ته د همغږۍ شته میکانیزمونو له لارې په منظمه توګه معلومات ورکوي.

ج. د ساحې او د همغږۍ ملي جوړښتونو ترمنځ نږدې اړیکه به څلورو میاشتو لپاره (نوامبر-فبروري) د ګډ څو سکتوري راپور ورکولو له لارې او همدارنګه د کلسټر داخلي اړیکو (له زون څخه په ملي کچه او برعکس) له لارې ترسره شي. په نوبت سره، د کلسټر همغږۍ ډله به هره میاشت HCT ته راپور ورکوي.

## 4.2 مهالوېش

د ژمي سخت حالات معمولاً له 2021 کال ډیسمبر – 2021 کال فبروري پورې وي. ټولې هڅې به ترسره شي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې سخت ژمي کې مرسته پروخت چمتو شي. ارزونې به د 2021 کال اکتوبر وروستیو کې پیل او په پایله کې به مرسته وړاندې شي.

## 4.3 د موخې وړ ګرځولو، زیان منني او مقطعي ستونزې

څرنګه چې لوړ شمېر کورنۍ نشي کولای ژمي موسم لپاره مناسب چمتووالی ونیسي، چې د سرچینو لږوالی هم احتمال لري، بشري نهادونو ته کلکه سپارښتنه کېږي ترڅو د زیان منني معیار لپاره د نمرې ورکولو سېټمونه پلې کړي، چې د ژمنۍ چمتووالي مرستې ګټه اخیستونکو پدې غوراوي کې، د لومړیتوب هغه معیار په پام کې ونیول شي چې د کار تخنیکي ډلې کلسټر لخوا وړاندیز شویدی. د زیانمنني د موخې وړ ګرځول (نښه کول) به د ټولنې اړتیاوو پر بنسټ وي، نه د سوله ییز ګډ شتون خوندیتوب پر بنسټ.

د خورا زیان منونکو کورنیو سربېره، هغو کسانو ته به لومړیتوب ورکړل شي چې تمه کېږي د لوړ ارتفاع لرونکي ساحې، تودوخې، او د هوا له امله له سخت حالت سره مخ دي. د زیان منني معیار تطبیقول به بشري نهادونو سره مرسته وکړي ترڅو مرستې لپاره وړ کسان په نښه کړي او هغو کسانو ته د مرستې چمتو کولو مخنیوی وکړي چې زیان منونکي ندي. دا معیارونه د ژوند د پارامیټرونو یوه ټولګه ده او باید په تدریجي توګه پرې بیاکتنه وشي ترڅو پرمختللو شرایطو کې د هغوی د تطبیق وړتیا وارزول شي او د روانو او راتلونکو ارزونو د تازه معلوماتو پر بنسټ تنظیم شي.

### 4.3.1 د ګټه اخیستونکي غوراوی

د ټولنې په کچه ارزونه او د غوراوي پروسه نهادونه اړ کوي ترڅو د ټولنې پرمختیایي شوراګانې، شورا، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت او افغانستان لپاره د طبعي پېښو د مدیریت ملي ادارې ولایتي دفترونه، بشرپالونکي، او پرمختیایي ادارې، د بشري مرستو همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو اداره، د ولایت او ولسوالۍ چارواکي، او بشري نهادونه چې په سیمه کې کار کوي ښکېل کړي. که چېرې د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست ونشي کولای چې ښکېل شي، ارزونې به یواځې د بشري نهادونو لخوا ترسره شي او د کډوالو او راستنېدو چارو ریاست ته به د برېښنالیک له لارې د پلان په اړه معلومات ورکول کېږي. که چېرې امکان ولرياو پدې شرط چې د غیر ضروري ځنډ لامل نشي، د ګډې ارزونې ټیم کې د ښځینه او خوندیتوب کارکوونکو ګډون باید وهڅول شي. د ګټه اخیستونکي د غوراوي ټولې ګډې ارزونې به د ارزونې ټیمونو ډله ییزې پریکړې سره تړاو لري.

د ټولنې د ګټه اخیستنې کمېټه (د ټولنې، د ټولنې پرمختیایي شورا، داخلي بېځای شوي خلکو، شورا، راستنېدونکي په استازیتوب چې د ښځو عادله ګډون ډاډمن شي) به د زیان منونکي کورنیو یو لېست چې له معیار سره برابر وي (داخلي بېځایه شوي زیان منونکي، راستنېدونکي، کوربه ټولنه چې ملاتړ یا عاید نلري یا ژمنۍ مرستې ته اړتیا لري) د ګټه اخیستونکي د غوراوي کمېټې (د کډوالو او راستنېدونکو چارو ولایتي ریاستونه، د بشري مرستو همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو اداره، د ولایت او ولسوالۍ په کچه چارواکي، د کلسټر د زون او ولایت ارتباطي کسان، بشري نهادونه) ته راجع کړي.

د ګټه اخیستونکي د غوراوي کمېټه (BSC) به لېست د ګډې ارزونې کمېټې (JAT) ته له استولو څخه مخکې وارزوي، ترڅو د تکراري کسانو مخنیوی وشي. د ګډې ارزونې کمېټه کې به د کلسټر کاري شریکان لکه ملګري ملتونه، غیر دولتي نړیوالې ادارې، غیر دولتي ملي ادارې، د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست، چېرته چې امکان ولري د SMTF نهادونه شامل وي. د ساحوي ارزونې پرمهال، د ګډې ارزونې کمېټه کولای شي هغه زیان منونکي کورنۍ شامل کړي څوک چې په معیار برابر دي مګر د ګټه اخیستونکي د غوارې کمېټې ته وړاندیز شوي ندي. سپارښتنه کېږي چې د ارزونې ټیم ټول غړي چېرته چې امکان ولري یوشان ابزار وکاروي.

### 4.3.2 په نښه کول

د ارزونې پایلې د زیان منونکي خلکو ارزول شوي لېست په ګډون د زیان منني کوډ کارټ لپاره د موخې وړ ګټه اخیستونکو لومړیتوب ورکولو او غوراوي لپاره به د ګټه اخیستونکي د غوراوي کمېټې ته وسپارل شي. وروستنۍ پایلې به د همغږۍ غونډې له لارې ټولو همکارانو سره شریک شي او د همغږي شوي ځواب پواسطه زیان منونکو کورنیو ته لومړیتوب ورکړي چې د سخت ژمي له امله اغېزمن شویدي. د ګټه اخیستونکي د غوراوي پروسې ونډه د ځواب ورکولو ځنډول ندي بلکې د روڼتیا او مساوي لاسرسي ډاډمن کول دي چې ډېره اړتیا لري. تمه کېږي چې د ټولنې یا کاري شریکانو لخوا د لېست ترلاسه کېدو او ارزونو څخه وروسته د ژمني چمتووالي مرسته په دوه اونیو کې وړاندې شي.

### 4.3.3 ځواب

چېرته چې امکان ولري، د مرستو وېش باید له ارزونو سره هم مهاله ترسره شي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې تصدیق شوي او ارزول شوي وګړي ژرترژره مرسته ترلاسه کړي. که چېرې د لاسرسي محدودیتونو له امله، یوه همکاره اداره د لېست تصدیق بشپړ او یوه ارزونه ترسره کړی وي او تشخیص شوي اړتیاوې د هغوي توان کې وي، هغوی کولای شي ژرترژره ځواب ورکړي ترڅو زیانمن شوي خلک د امکان تر کچې مرسته ژر ترلاسه کړي. که چېرې د څو سکټورونو پواسطه یو همغږي شوي ځواب ته اړتیا وي، د زون په کچه کلسټر به د ارزونې موندنې له بشري نهادونو او د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست سره شریک کړي او له اړوندو کلسټرونو سره کار وکړي ترڅو د بېړنیو اړتیاوو پر بنسټ د یو مناسب ځواب آسانتیا برابره کړي. د بشري مرستو همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو اداره، ملي فرعي کلسټرونه، د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست به له نورو همکارانو سره کار وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ځواب د زیانمن شویو وګړو اړتیاوې پوره کړي او د مرستې وړاندې کول خوندي او له کلتوري اړخه مناسب وي. پدې کې د وېش ځایونو د خوندیتوب ډاډمنول شامل دي. دا باید له پوځي/امنیتي پوستو څخه لېرې وي او د انساني او بشري حفظ الصحې خوندیتوب لپاره مناسبې آسانتیاوې ولري لکه تشنابونه او سیورى او د امکان تر کچې زیانمن شویو خلکو ته نږدې وي. زیان منونکي ډلو ته د وېش لومړیتوب ورکولو لپاره باید ځانګړي شبکې رامنځته شي لکه هغه کورنۍ چې ښځینه سرپرست لري، ماشومان، امېندواره او شېدې ورکوونکي ښځې، معلولین، او لوړ عمر لرونکي کسان. د انتظار موده باید لږترلږه کچې ته وساتل شي. د رضایت ترلاسه کولو په ګډون، انځورونو او ویډیوګانو لپاره اخلاقي معیارونه باید د حکومت او بشري فعالانو لخوا د انځور اخیستلو او د داسې توکو خپرولو څخه مخکې پام کې ونیول شي.
د محرمیت، رضایت، غوره علاقمندي، مقصد، او لاسرسي او د معلوماتو خوندیتوب، د معلوماتو شریکولو موافقې د اصولو مطابق باید په هغو ځایونو کې چې ډېرې اړتیاوې لري او چېرته چې دوه یا ډېرو کاري شریکانو د ځواب ورکولو تمه کېږي، هوکړه وشي. د ارزونو لومړیتوب به هغو سیمو کې ترسره شي چې تمه کېږي د 2020 کال اکتوبر پورې به د هوا له سختو شرایطو سره مخ شي.

د ارزونې لومړیتوب به په هغو سیمو کې ترسره شي چې تمه کیږي د 2020 اکتوبر پورې به د سخت هوا شرایط تجربه کړي.

باید په هغو ځایونو کې چې لوړې اړتیاوې ولري او چیرې چې دوه یا ډېرو شریکانو د ځواب ویلو تمه کیږي موافقه وشي.

## 4.4 نظارت

انفرادي نهادونو څخه تمه کېږي چې په ساحه او په واقعي وخت کې نظارت ترسره کړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې مرستې د موخې وړ خلکو ته رسېږي. نهادونه باید له زیانمن شویو کسانو سره د ته Awaaz سربېره د اړیکو یو یا ډېر چینلونه رامنځته کړي، د نظریو او شکایتونو صندوق تنظیمولو په ګډون، سروې او/یا د وېش په سایټ کې مېز، د ټولنیزو رسنیو له لارې، ډله ییزو بحثونو، د مهمو معلوماتو ورکوونکو مرکې او داسې نور. له هر نهاد څخه غوښتل کېږي ترڅو د کلسټر منل شوي بېلګې په کارولو یا د هغوی ادارې په ابزارو کې د ځانګړي کلسټر پوښتنې شاملې دي په کارولو سره له وېش وروسته ارزونه (PDM) ترسره کړي ترڅو اغېزې اندازه شي، تجربې شریکې شي، د زیانمن شویو خلکو پروړاندې مسؤولیت منل پیاوړي کړي او د راتلونکو پروګرامونو څخه لږترلږه د 2022 کال اپریل پورې راتلونکي پروګرام جوړولو ته معلومات چمتو کړي.

## 4.5 راپور ورکول

د ساحې او د همغږۍ ملي جوړښتونو ترمنځ نږدې اړیکه باید د ګډ څو سکتوري کلسټر راپور ورکولو له لارې څلور میاشتو لپاره ترسره شي، له نوامبر څخه تر فبروري میاشت پورې همدارنګه د کلسټر (زون څخه په ملي کچه او برعکس) داخلي اړیکو او د بشري مرستو همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو اداري آسانتیا له لارې.

پخپل نوبت، د کلسټر د همغږۍ ډله به هره دوه اونۍ HCT او HC ته راپور ورکوي. ټول کاري شریکان باید د راپور ورکولو مرکز له لارې د ژمنی چمتووالي د ځواب ورکولو فعالیتونو په اړه راپور ورکړي. د معلوماتو مدیریت او د ماى پاکۍ پروګرام به د راپور هب کې د اړیکې یوه وسیله رامینځته کړي چې د نورو سکتورونو په ګډون ټولو کاري شریکانو ته اجازه ورکړي ترڅو د ژمي موسم لپاره د فعالیتونو او چمتو شوي مرستې په اړه هره میاشت نوي معلومات چمتو کړي. دا به د ځواب ورکولو معیار او د تګلارې پروړاندې د بودیجې خندونو له منځته وړلو سره مرسته وکړي.

# 5 پایله

دا تګلاره د ژمي موسم ته د کلسټر ځواب ورکولو هڅې په ګوته کوي او موخه یې زیان منونکو خلکو لپاره د ژوند ژغورنې مرستو چمتو کول دي ترڅو د زیان منونکو خلکو د مړینې مخنیوی وشي. د یو همغږي غبرګون ډاډمنتیا لپاره، له وخت مخکې د بودیجو تشخیص به دواړه کاري شریکان او اړوندو وزارتونو ته وړتیا ورکړي ترڅو د زیانمن شویو کورنیو د موخې وړ اړتیاوې پروخت پوره کړي او د تنفسي ناروغیو، د سږو پړسوب، روغتون کې د بستر کېدو، مړینې، منفي میکانیزمونو سره د مخ کېدو د خوندیتوب اړوند ستونزو په ګډون لکه د ماشوم کار، سوالګري، د ماشومانو پلورل او داسې نور، لږوالی وومومي. ژمنی مرسته باید د یخنۍ موسم له پیل کېدو څخه مخکې چمتو شي، ترڅو د موخې وړ خلکو ته د ژمي پلان او ذخیرې اجازه ورکړي. دا تګلاره د کلسټر په داخلي میکانیزمونو کې د همغږۍ په اړه یوې پیاوړې ژمنې ته اړتیا لري ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې یو هر اړخیز غبرګون زیانمن شویو خلکو ته اجازه ورکوي چې خپلې مقطعي اړتیاوې او د ژمي موسم سره تړلي زیان منني په ګوته کړي. سربېره پر دې، دا د تمویل کوونکو، په دواړو ولایتي او ملي کچو حکومتي چارواکو، د غبرګون تطبیق کې بېلابېل ښکېل وزارتونه او همدارنګه د ستراتېژیکو لومړیتوبونو، د بودیجې تخصیص طرحې همغږۍ او ملاتړ ته اړتیا لري چې د ژمي موده کې اغېزمن دي.

دا په لومړني توګه د بېړني حالت پر بشري هڅو تمرکز کوي او پرمختیایي فعالان کولای شي مرسته وکړي چې د بیارغونې/پرمختیایي کاري چوکاټ کې د ژمي موسم پروړاندې د هېواد مقاومت رامنځته کېدو سره مرسته وکړي.

## لنډیزونه

- NFI - غیر خوراکي توکي
- WASH - د اوبو پاکوالی او حفظ الصحه
- ICCT - د کلسټر د همغږۍ ډله
- MORR - د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
- ANDMA - د افغانستان د طبیعي پېښو مدیریت ملي اداره
- OCHA - د بشري مرستو همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو اداره
- IPC - د هر اړخیز پړاو طبقه بندي
- ES/NFI - د بېړني حالت سرپناه او غیر-خوراکي توکي
- IDPs - داخلي بېځایه شوي خلک
- COVID-19 - کورونا ویروس 19
- IDP - داخلي بېځایه شوي کسان
- EiEWG - بېړنیو حالتونو کې د زده کړې کاري ډله
- CBE - د ورټیا پر بنسټ زده کړه
- WFP - د ملګرو ملتونو د خوراک نړیواله اداره
- HAP - د کورنۍ هوا ککړتیا
- WHO - د روغتیا نړیواله اداره
- FSAC - د خوراکي توکو خوندیتوب او د کرهنې کلسټر
- MAM - پرمختللی حاد خوارځواکي
- SAM - شدید حاد خوارځواکي
- ES - د بېړني حالت سرپناه
- CVA - نغدي او کوپوني مرسته
- CfR - کرایې لپاره نغدي مرسته
- FSPs - د مالي خدمتونو چمتو کوونکي
- RCCE - د خطر ارتباط او د ټولنې ښکېلتیا
- BPHS - روغتیایي خدمتونو لپاره لومړنی بسته
- PLWs - امېندواري او شېدي ورکوونکي ښځې
- IYCF - د نوي زېږېدلي کوچني او ماشوم تغذیه
- RUSF - مخکې چمتو شوي مرستندویه خواړه
- HRP - د بشري غبرګون پلان جوړونه
- MoPH - د عامې روغتیا وزارت
- GBV - د جندر پر بنسټ تاوتریخوالی
- PSN - هغه کسان چې ځانګړې اړتیاوې لري
- PSS - ټولنیز رواني ملاتړ
- CVWG - د نغدي کوپون کاري ډله
- DoRRs - د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو ریاست
- TWIG - تخنیکي کاري ډله
- iMMAP - د معلوماتو مدیریت او د ماین پاکۍ پروګرام
- JAT - د ارزونې ګډ ټیم
- BSC - د ګټه اخیستونکي د غوراوي کمېټه

## ماخذ


IPC, 2021. IPC Acute Food Insecurity Analysis. FSAC

WB, 2018. Unlocking the Potential of Agriculture for Afghanistan's Growth (https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/publication/unlocking-potential-of-agriculture-for-afghanistan-growth)

World Data, 2021. Statistics and Research on COVID-19 vaccinations (https://ourworldindata.org/covid-vaccinations?country=AFG)

WHO, 2020. Early responses to COVID-19 in Afghanistan. EMHJ, Vol.26, No 12

OCHA/WHO, 2021. Strategic Situation Report: COVID-19. No. 102

SCI, 2021. Article on children vaccination https://www.savethechildren.net/news/afghanistan%E2%80%99s-children-are-paying-price-global-covid-19-vaccine-rollout-failures-warns-save)

REACH/Shelter Cluster Afghanistan/UNHCR, 2020. Afghanistan: Winterization Evaluation. Afghanistan

ASP, 2021. Perspective - Preparing for the Consequences of Withdrawal from Afghanistan (https://www.americansecurityproject.org/perspective-preparing-for-the-consequences-of-withdrawal-from-afghanistan/)

WB, 2021. Overview of Afghanistan (https://www.americansecurityproject.org/perspective-preparing-for-the-consequences-of-withdrawal-from-afghanistan/)

Islamic Republic of Afghanistan, 2021. Afghanistan Voluntary National Review. AfghanistanAAN, 2021. COVID-19 in Afghanistan: Into the third wave (https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/economy-development-environment/covid-19-in-afghanistan-9-into-the-third-wave/)

ACAPS, 2021. Afghanistan Overview (https://cccmcluster.org/operations/afghanistan)

iMMAP, 2021. Winter season snow coverage from January 2015 to March 2020 (December, January, February, March). AfghanistanOCHA, 2021. Afghanistan Conflict Displacement. January to June 2021, Afghanistan

iMMAP, 2021. Annual and monthly mean mean temperatures from 2011 to 2020. Afghanistan

WoAA, 2020. ESNFI sectoral and inter-sectoral findings. Afghanistan

ESNFI Cluster, 2020. Joint Winterization Strategy Plan for 2020/2021. Afghanistan


## ګڼه

| نسخه | نېټه | رامنځته شوي بدلونونه |
|---|---|---|
| 01 | 02.08.2021 | نشته |
| 02 | 12.01.2022 | فعلی وضیعت |



Photo: Farhad Faizi/DMP/UNHCR

sheltercluster.org/response/afghanistan

@AFSheltcluster